شاه امان الله در 22 جون 1927 منار یاد گاری بنام "منار علم وجهل"را که دردهمزنگ کابل درکنار دریای کابل بخاطرختم شورش ملای لنگ بناکرده بود دریک طرف آن این شورش توضیح شده ودرسه طرف دیگرآن اسامی سه صد نفرافسرانی که در جنگ شهید شده بودند تحریر گردیده است.

تأمین استقلال سیاسی به شاه امان الله خان اجازه داد تا به تطبیق پروگرامهای گستردهٔ انکشاف ساختمانی، فرهنگی، اجتماعی- سیاسی و دیپلوماتیک دست زند تا افغانستان بتواند در قطار کشورهای پیشرفته جهان عرض وجود نماید.

**دائرهٔ شیطانی جدال ترقی و ارتجاع**

متاسفانه امروز یکصد و چهار سال بعد از حلول استقلال ما همچنان با همان مسایلی و همان عناصری روبرو هستیم که سبب شکست پروگرامهای اصلاحی شاه امان الله خان گردید. جا دارد این مطلب مورد دقت و ارزیابی قرار بگیرد که چرا زمان در افغانستان منجمد شده است؟

نزدیک به نیم قرن است که افغانستان در نتیجهٔ بی ثباتی سیاسی در تراژیدی حوادث بس ناگوار میسوزد. آنچه در محراق این تراژیدی ملی قرار دارد عقب ماندگی اقتصادی و اجتماعی افغانستان از تمدن و صنعت معاصر است. در شرایطیکه نزدیک به هفتاد فیصد نفوس افغانستان در دهات زندگی نموده متکی به اقتصاد زراعتی و مناسبات روستائی اند، نیم قرن بی ثباتی سیاسی، جنگ، بیسوادی و کم سوادی، و استیلای مرتجعین بدوی بالای نفوس دهاتی، این خلای تمدنی را عمیقتر ساخته زمینه رشد عناصر افراطی مذهبی ضد ترقی و حاکمیت آنها را در دهات فراهم نموده است. قربانیان ادامهٔ این تراژیدی نیم قرنه، مردم تمام اقوام و زبانهای افغانستان و بخصوص ده نشینان مناطق پشتون نشین کشور در همسایگی پاکستان بوده اند. با به قدرت رسیدن مجدد افراطیون بدوی و متحجر طالبان، این حقیقت برای همه آشکار شد که در مجموع مضمون اصلی این کشمکش نیم قرنه در افغانستان مبارزه ایدیولوژیک میان ترقی و ارتجاع بوده است.

در صد سال اخیر در افغانستان **تسلسل مبارزه میان خوب، بد و زشت** بطور واضح مشهود است. از روز استقلال در سال 1919م تا امروز مبارزه میان جنگسالاران و زورگویان محلی و حکومت مرکزی و همچنان مبارزه میان عناصر بنیادگرای عنعنوی به رهبری روحانیون و نیروهای ترقیخواه که آرزومند پیشرفت کشور در قطار کشورهای پیشرفته دنیا میباشند همچنان جریان دارد. شباهت مسائل و عوامل شکست نهضت امانی با مسائل و عوامل ارتجاعی امروزی که در مقابل توسعهٔ دموکراسی، حقوق اساسی مدنی مردم، توسعهٔ حقوق بشر منجمله حق تعلیم و تربیه و حقوق و آزادیهای ابتدایی فردی مانند مساوات در برابر قانون، پوشیدن لباس، کار و اشتغال هنوز هم به همان شدت صد سال خود باقیست. حتی نسلهای امروزی افراد در همان نقشهای متخاصم پدران و پدر کلانهای خود قرار دارند. بطور مثال اگر نزدیک به صد سال قبل خلیل الله خلیلی به حمایت از حبیب الله کلکانی در کنار او قرار گرفت، پسر او امروز در کنار شورای نظار قرار دارد! امروز هم اشخاصی هستند که برای ادامهٔ سلطهٔ مافیای جهادی فرد مجاهد را برتر از سائر افراد جامعه پنداشته امتیازات بیشتر برای آنها تقاضا دارند. این تنها طالبان نیستند که مخالف مظاهر فرهنگ متداول امروزی در جهان اند و جز از شریعت هیچ قانون دیگری را برسمیت نمیشناسند بلکه هستند باندهایی از مجاهدین سابق که در شهرها، اطراف و اکناف کشور در مخالفت با مظاهر تمدن و فرهنگ متداول امروزی محاکم صحرایی برپا کرده فرمان به سنگسار مردم میدهند. مانند آنست که زمان در افغانستان منجمد شده است!

در طول یکصد سال گذشته عناصر متعصب مذهبی که در مخالفت با **ترقیخواهی** یا **مدرنیزم** قرار گرفتند شامل **بنیادگرایان**، **اسلامگرایان**، و اخیراً گروههای **وهابی و تکفیری** میباشند. کسانیکه با نهضت امانی مخالفت کردند در دههٔ دموکراسی 1964-1973 میلادی با آزادی های فردی و اجتماعی سر مخالفت گشودند. در این دوران تیزاب پاشیدنها بروی دختران مکاتب رواج یافت و عامل شهادت عبدالرحمن در لغمان، عبدالقادر در هرات و سیدال سخندان در پوهنتون کابل گردیدند.

اسلامگرایان متعاقباً بر مبنای فتوای به خطر افتیدن دین اسلام در مقابل جمهوری داوود خان بغاوت نموده در سال 1975 به اعزام

گروپهای مسلح خرابکار از پاکستان اقدام کردند که ترور علی احمد خرم وزیرپلان در کابل و شورش پنجشیر را میتوان نام برد

بر همین تسلسل کسانیکه با نهضت امانی مخالفت کردند در دهه های 1980 و 1990 میلادی حیات دوباره یافته به عنوان تنظیمهای جهادی بنیاد گرا و اسلامگرا **در صفوف قیامهای مردمی رخنه کرده رهبری مقاومت مردم را در برابر حکومتهای خود کامه کودتای هفتم ثور گرفته هزاران مکتب را ویران کردند و آتش زدند وهزاران معلم و متعلم بیگناه را به شهادت رسانیدند.**

متاسفانه در بیست سال حاکمیت جمهوری اسلامی ذهنیت افراط گرایی مذهبی تکفیری مجاهد پرور در نصاب درسی مضامین دینی سیستم تعلیم و تربیهٔ کشور داخل شدو تراوشات چنین ذهنیت مخرب از پشت تریبیونهای مهم از طریق رسانه های ملی در جامعه منتشر میگرددی. به همین ارتباط **میر عبدالواحد** سادات مینویسد: "ذهنیت تکفیری ... مخالفان را «کافر» خوانده و برای مشروعیت «فتوای» خویش به آیات و احادیث استناد مینماید. این ذهنیت در طول تاریخ و از جمله درصد سال اخیربا الهام از مدرسه دیوبند وبه اشکال مختلف تاکنون، در جدل تاریخی علم و جهل و بعد از شمس النهار که تجدد و تقابل آن با سنت مطرح است و طی جنبش های مشروطیت اول و دوم و نهضت امانی و «لا تی» خواندن شاه امان اله و ... تا کنون از جهل پاسداری و برای بغاوت زمینه سازی نموده است... اعلام...در نهم سپتامبر و در خیمه لویه جرگه این ذهنیت بگونه دیگر و توسط یکی از بلند گویان ارشد این تفکر بیان گردید، (تا جایگاه شکست خورده و تاریخ تیر شده ارستوکراسی «جهاد» و سیطره تسلط مافیایی آنان تحکیم یآبد) و صاف وساده شهروندان کشور به درجه یک و ثانوی تقسیم واعلام گردید که «مجاهد» برترو با دیگران مساوی نمی باشد و منکر آن «کافر باالله» است.[1]

همانطوریکه تا صد سال قبل استعمار کهن در تقابل با بنیادگرائی مذهبی از روش دوگانهٔ مقابله و حمایت کار میگرفتند، امروز نیز استعمار نوین غربی با روش امپریالستی خود مطابق منافع روز و منافع دراز مدت استراتژیک خود به مقابله و یا حمایت از افراط گرائی میپردازند و در رشد و اشاعهٔ تروریزم افراط گرای مذهبی نقش مهمی داشته و با سرنوشت ملتها، منجمله سرنوشت ملت ما، به یک بازی بزرگ استعماری نوین مشغول اند.

نزدیک به نیم قرن است که افغانستان در نتیجهٔ بی ثباتی سیاسی در تراژیدی حوادث بس ناگوار میسوزد. این بی ثباتی سیاسی از سقوط نظام مشروطهٔ سلطنتی متکی به قانون اساسی آغاز گردیده، زمینه را برای تجربه های ناکام نظامهای متکی به ایدیولوژیهای سوسیالیستی-کمونیستی، اسلامگرایی جهادی، اسلامگرایی بدوی متحجر و بالاخره لیبرال دموکراسی جمهوری مافیایی فراهم نمود. مازاد بر آن، در نتیجه این بی ثباتی سیاسی و ضعف دولت مرکزی، افغانستان به مرکز درجه اول تولید و قاچاق مواد مخدر و فساد اداری در جهان مبدل گردید. در نتیجهٔ ادامهٔ این بی ثباتی سیاسی امکانات دست اندازی مستقیم و غیر مستقیم، کشورهای همسایه، منطقه و ابر قدرتها در کشور فراهم گردیده افغانستان را به میدان جنگهای نیابتی استخباراتی.و پرورشگاه گروههای تروریستی، منجمله جنایتکاران داعشی، مبدل نموده که امنیت کشورهای منطقه و جهان را به خطر انداخته است.

آنچه در محراق این تراژیدی ملی قرار دارد عقب ماندگی اقتصادی و اجتماعی افغانستان از تمدن و صنعت معاصر است. در شرایطیکه نزدیک به هفتاد فیصد نفوس افغانستان در دهات زندگی نموده متکی به اقتصاد زراعتی و مناسبات روستائی اند، نیم قرن بی ثباتی سیاسی، جنگ، بیسوادی و کم سوادی، و استیلای مرتجعین بدوی بالای نفوس دهاتی، این خلای تمدنی را عمیقتر ساخته زمینه رشد عناصر افراطی مذهبی ضد ترقی و حاکمیت آنها را در دهات فراهم نموده است. قربانیان ادامهٔ این تراژیدی نیم قرنه، مردم تمام اقوام و زبانهای افغانستان و بخصوص ده نشینان مناطق پشتون نشین کشور در همسایگی پاکستان بوده اند. با به قدرت رسیدن مجدد افراطیون بدوی و متحجر طالبان، این حقیقت برای همه آشکار شد که در مجموع مضمون اصلی این کشمکش نیم قرنه در افغانستان مبارزه ایدیولوژیک میان ترقی و ارتجاع بوده است.

متاسفانه این بی ثباتی سیاسی به عناصر ضد ملی که به موجودیت ملت افغانستان و منافع ملی مردم افغانستان عقیده ندارند فرصت داد

[1] میر عبدالواحد سادات، *ذهنیت تکفیری و تداوم کشتار، سلاخی ارزشهای مدنی و ...*، سایت انترنتی هود.

تا به کمک مستقیم خارجیان با اشاعهٔ تبلیغات ضد ملی به ایجاد شگافهای قومی، زبانی و سمتی پرداخته مضمون اصلی این کشمکش نیم قرنه را، نه مبارزه میان ترقی و ارتجاع، بلکه کشمکش قومی جلوه داده دسایس موجودیت ستم ملی و تجزیه طلبی را با اجرای سیاستهای خراسان خواهی ضد افغان و ضد افغانستان دامن زنند. خوشبختانه این نوع برداشتها تاکنون تنها منحصر به روشنفکرنماها بوده بالای اتحاد ملی مردم افغانستان تاثیر نداشته حاکمیت ملی و تمامیت ارضی افغانستان همچنان پابرجاست.

تقلیل موضوع محوری بی ثباتی سیاسی افغانستان از عامل اصلی مبارزه میان ترقی و ارتجاع به کشمکش مغرضانهٔ نادرست تاریخی قومی پشتون و تاجیک توسط عناصر ضد ملی افغانستان یک حامی با نفوذ و قدرتمندی در وجود پاکستان یافت و این برداشت نادرست و ضد ملی را به عنوان دلیل اصلی قیام طالبان در میان حامیان بین المللی دولت جمهوری اسلامی اشاعه نمود که در نتیجهٔ آن پروسهٔ انکشاف سالم دولت سازی، دموکراسی و مطبوعات ملی مسول در کشور صدمه دیده به تضعیف دولت منجر شده یکی از عوامل سقوط دولت جمهوری را فراهم ساخت. متاسفانه این نوع برداشت هنوزهم در میان طیفی از فعالان گروه مقاومت ضد طالبان اشاعه داشته مانع عمده در جهت ایجاد یک اتحاد ملی مترقی ضد افراطیت و بدویت طالبانی محسوب میگردد. باید دانست که امر نجات افغانستان از هیولای افراطیت مذهبی و بدویت طالبانی را نمیتوان همزمان با مخالفت با ارزشهای ناموسی ملت افغانستان بشمول نام کشور و ملیت شناخته شدهٔ جهانی "افغان" ادامه داد.

طوریکه میدانیم بعد از بیست سال اقتدار دولت جمهوری اسلامی افغانستان به تاریخ 15 اگست سال 2021 سقوط کرد و تحریک طالبان افغانستان برای بار دوم دولت امارت اسلامی خودرا بر قرار کردند.

باوجود مشکلات و نارساییهای زیادی که در ادارهٔ دولت جمهوری موجود بود، مردم افغانستان امیدهای زیادی به یک آیندهٔ درخشان، و یک افغانستان پیشرفته، دموکرات و متمدن در چوکات دولت جمهوری اسلامی و قانون اساسی سال 2004 داشتند.

همچنان با وجود فساد گسترده، و ایجاد شگافهای اجتماعی در نتیجهٔ اعمال سیاستهای قومپرستانه توسط یکتعداد فعالین سیاسی، دست، آوردهای بیست سالهٔ دولت جمهوری اسلامی در زمینه های تضمین حقوق اساسی مردم، تضمین آزادیهای اجتماعی و سیاسی، تعلیم و تربیه، بهبود صحت عامه، تحصیلات عالی، ایجاد بنیادهای دولتی، خطوط مواصلاتی، تسهیلات مخابراتی، اطلاعات و فرهنگ، انکشاف سیستم بانکداری، انکشاف تجارت خارجی، افزایش عواید داخلی، قانونگذاری، ترانسپورت هوایی، تبارز جامعهٔ مدنی و غیره زمینه ها قابل ملاحظه اند.

اما پیروزی طالبان با تکیه بر انفاذ شریعت مطابق تفسیر متحجر و بدوی و انفاذ عنعنات نابرابر و عقب ماندهٔ روستایی بر جوامع شهری امروزی این امید ها را به خاک یکسان نمود.

در دوسال حاکمیت خود آنچه طالبان به مردم افغانستان عرضه کرده اند عبارت اند از:

ختم حملات انتحاری، ختم جنگ با اردوی ملی، تأمین نسبی امنیت در کشور، ختم جزیره های قدرت محلی جنگسالاران و قدرتمندان در دهات و شهرها، ختم انارشی و خودکامگی لنده غران و قدرتمندان شهری، پایان غصب زمینها و داراییهای دولتی توسط قدرتمندان، ختم تبلیغات ضد ملی در رسانه های داخلی، بهبود عواید دولتی، و ختم فساد اداری.

در دوسال حاکمیت خود آنچه طالبان بر مردم افغانستان گرفته اند عبارت اند از قانون اساسی، مشارکت مردم، احزاب و سازمانهای سیاسی و اجتماعی در ادارهٔ و سیاست دولت، حقوق مدنی و سیاسی مردم، آزادیهای فرهنگی، استقلالیت قوای ثلاثه دولتی، آزادیهای اجتماعی و مدنی!

در دوسال حاکمیت خود آنچه طالبان بر مردم تحمیل کرده اند عبارت اند از اپارتاید جنسیتی یا تجرید کامل زنان از مردان در حیات اجتماعی، ممانعت از تعلیم و تحصیل دختران و زنان، ممانعت از کار زنان و دختران در خارج از منزل.

امارت اسلامی طالبان در حقیقت احیای دوباره ارزشهای مبارزهٔ ملای لنگ و تأمین مجدد نظم دولت سقوی میباشد. بدین ترتیب ما متاسفانه شاهد منجمد شدن زمان در افغانستان هستیم!

(پایان)

# پښتنې ټولنه د بحرانونو په ګرداب کې

سلیم شاه

تاریخ‌لیکوال په ماضي غور کوي؛ خو الماني فیلسوف ماکس وبر پوښتنه کوي چې پر کوم بنسټ تاریخ‌لیکوال د اروپايي دولتونو ترمنځ جنګونه تاریخي پېښې ګڼي؛ خو د امریکا د سورپوستو قبایلو ترمنځ جنګونه یا د افریقا د تورپوستو قبایلو ترمنځ جنګونه بیا غیرتاریخي پېښې دي؟

په‌دې لیدتوګه کې یوه ډېره مهمه بېلګه اروپامحور لیدتوګه ده او هغه د هیګل د تاریخ فلسفي درسونه دي. هیګل د تاریخ‌لرونکیو ملتونو او د تاریخ نه‌لرونکیو ملتونو ترمنځ توپیر کوي. دا دوه تعبیرونه هیګل را منځته‌کړل او بیا وروسته فرید ریش انګلس هغه وکارول. هیګل تاریخ یو امر یا عیني وجود (ابژکتیو روح) بللو چې کومې پېښې تاریخي دي او کومې پېښې غیرتاریخي دي. هیګل په‌دې عقیده و چې ځینې ملتونه ځکه تاریخ نه‌لري چې له تاریخي خبرتیا نه بې‌برخې دي. د تاریخ مسیر په اهمیت نه‌پوهېږي او ځانته تاریخي موقعیت ته نه قایلېږي. په پایله کې د هغو د زمان په جریان کې د هغو ژوند کول (د هغو زماني واټن) د تاریخي او تکاملي سیر کې د موجودیت په مانا نه‌ده. یوازې هغه ملتونه ـ چې تاریخي شرط رعایتوي یانې تاریخي خبرتیا او سوبژکتیو روح ولري او حاکمیت‌لرونکی دولت جوړ کړي ـ تاریخ لري . هغوی ماضي د اسنادو، مدارکو او لیکنو په ډول لري او خپله د تاریخ د تکامل اجزا ګڼل کېږي. " ب.احمدي. رساله ی تاریخ ٢٤ مخ




همدارنګه دلته پورتنۍ طرحه په‌خپل ځای پرېږدو او د پښتون ولس پر برخلیك خبرې کوو. په‌دې لیکنه کې د "پښتون ملت " ګړنه نه کاروو؛ کومه بله اصطلاح هم ورته ځکه نه را اخلو چې یو عام فرهنګي مفهوم "پښتنې ټولنه" مفهوم شته او همدا به ځکه وکاروو چې اوسمهال پښتانه قومونه او قبایل، ولسونه په یو واحد جغرافیوي قلمرو کې نه‌دي مېشت. د دوی ژوند په یو پلرني قلمرو کې ډیاسپورا ته ورته دی چې مخکینۍ فلسفي شننې سره مطابقت هم کوي .

انګرېزي استعمار چې کله د افغان – انګلیس په لومړۍ جګړه کې ماتي وخوړه. ١٦ زره پوځیان یې د جګدلك په لار له لاسه ورکړل او دلویس دوپرې د یوې مقالې په حواله وايي چې د انګرېز په دې تلفاتو کې دوه زر هندی او بنګالی بدلمنې هم له تلف شوې. دا پېښه استعمار ته د سختې عقدې او ژورې کینې سبب شوه. لومړۍ یې په ناروغ بارکزي امیر "یعقوب خان " د ګندمك تړون لاس لیك کړ او بیا یې پیورنډ لاین فرضي کرښه تحمیل کړه؛ خو وروسته یې بیا د فرضي کرښي هاخواته پښتون ولس په اوو ګونو پولیټیکل ایجنسیو ، فاټا، او محکومو ښاري سیمو ووېشلو او قبایلي ریاستونه یې وروسته تر خپلې قبضې لاندې راوستل.

سره له‌دې چې د استاد حسن کاکړ په نظر د ډیورنډ لاین په مسوده د وخت د امیر کوم لاسلیك نه‌شته او نه هم تایید لري؛ خو له بلې خوا چې کله مساله عامه ذهنیت ته اوړي؛ نو بیا ټول پښتانه قبایل د خط په امتداد کې بغاوت او پاڅون کوي. د افغانستان حکومت هم د امان‌الله خان تر دورې پورې هېڅ بهرنی خپلواکي نه‌لرله، بلکې یو "بفر ستیت " او بیا لاس‌پوڅی حکومت و. خو د مشروطه نهضت د تحرك او امان‌الله خان د درایت له‌مخې افغانستان په ١٩١٩ کال بېرته خپلواکي واخیستله.

اوسمهال "که څه هم کره احصایوي شمېرې نه‌شته؛ خو اټکل کېږي چې په افغانستان او پاکستان کې د ٤٠ او ٥٠ میلیونو ترمنځ پښتانه ژوند کوي .اټکلېږي چې د افغانستان د نفوسو نیمه برخه پښتانه جوړوي چې شمېر یې (٢٥.٥) میلیونو ته رسېږي؛ خو پاکستان کې پښتانه لوی لړکي دي چې د٢٠١٠ کال

د شمېرو لهمخې له ۱۷٤ ميليونو نفوسو څخه "۱۵-۲۰" سلنه پښتانه دي. پښتانه له اره د مرکزي افغانستان د هندوکش د غرونو او هندو سيند ترمنځ اوسېدل، خو اوس پښتانه په خورا پراخو سيمو کې اوسيږي. په تېره يوه پېړۍ کې پښتانه د افغانستان په شمال کې د مرکزي اسيا ترځنګ پروت امو سيند پر غاړه مېشت شوي‌دي. د پاکستان سويل کې بندر لرونکي ښار کراچۍ د عرب سمندر ترځنګ پروت دی چې د سيمې د بل هر ښار په پرتله په کې ډېر پښتانه اوسېږي. دې ښار ته د پښتنو د ورتګ اساسي دليل اقتصادي کاروبار دی .د کراچۍ له شلو مليونو نفوسو نه څلور مليونه پښتانه دي. " (ابوبکر صديق. ۲۰ مخ پښتانه د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوي مساله.)

بايد ووايم چې پورتنۍ تبصره زموږ د اساسي بحث لپاره د يو مدخل په ډول وړاندې شوه: اصلي خبره په بحرانونو کې ده. اوسمهال پښتني ټولنه په څو ټاپوګانو وېشل شوې‌ده. په پښتونخوا کې د پاکستاني طالبانو تحريک يو وسلهوال حرکت دی. پخواني ملي يا نشنليست ګوندونه؛ لکه پښتونخوا عوامي نشنل پارټي او نشنل عوامي پارټي او نور... . همدارنګه د ځوان نسل استازی تحريک يا (پي ټي ايم) يو بل خورا ستر او بانفوذه حرکت دی.

له بلې‌خوا په افغانستان کې يا د افغانستان لپاره تبليغېږي چې طالبان پښتون توکم پورې اړه لري. دا تبليغ له دوو خواوو کېږي. يو په افغانستان کې د نورو ډلو يا اتنيك ګروپونو د تعصبي عناصرو لهخوا کېږي چې له يوې خوا پښتانه وحشي، ترقي‌ضد او فرهنګ‌ضد وښيي او له‌دې لارې په نور اتنيك ډلو کې د پښتنو پر ضد کرکه را وپاروي.

. له بلې خوا د طالبانو د بهرنيو مرستندويو او لمسوونکيو اصلي اجنډا همدا ده چې په افغانستان کې د پښتنو پر وړاندې د نورو قومونو ضد او نفرت راپيدا کړي او له هرې لارې دې اور ته د پکې وهلو اسبابو نه کار اخلي. دا پروپاګنده کېږي چې ګويا اوسنۍ حاکمه ډله له يوه سره پښتانه دي. له بل پلوه په افغانستان کې له حاکم مذهبي او توتاليتار ځواک پرته عام ولس او پښتانه دي چې هغوی اوس يو خاموش اکثريت دي. دوی څه له ډار و ترهې غږ نه‌شي کولی او څه له ډار و ترهې په تېښته کې دي. په دا منځ کې يې بيا ځينې داسې عناصر هم شته چې ارتودوکسه متعصب او د نورو اتنيك ډلو ضد او ملي ضد عناصر دی چې موجوده واکمنو ته بوخ ـ بوخ کېږي.

په هر صورت که دا ټول ځواکونه وارزول شي؛ دې پايلې ته رسېږو چې پخوانيو ملي حرکتونو خپل اصالت او د پښتنو د حقوقو رسالت له لاسه ورکړی دی. ورځ په ورځ خپل نفوذ له لاسه ورکوي. سره له دې چې دوی په مشهورو شخصيتونو د ازادۍ په قهرمانانو ـ چې اساطيري نقش يې لرلو ـ تکيه کوي؛ خو عملي يې وينو چې هماغو اساطيري شخصيتونه د خپل ماهيت او اصالت لهمخې هېڅکله په کورنيو پورې اړه نه‌لرله، بلکې زړونه يې په اکثريت پښتون ولس پورې تړلي وو. بايد وويل شي چې هغه اساطيري شخصيتونه د بېلګې په توګه ستر باچاخان پهدې پوهېدلو چې له هنده راجلا شوی پاکستان هېڅکله پښتنو ته صادقه نه‌و او نه‌دی. له بلې‌خوا د هغه مړينې پاتې نسلونو ته پيغام پرېښود چې پښتانه يو وجود او يو تن دی.

**راڅو اوسني جريان ته:** په افغانستان کې د تېرو څو لسيزو راپه‌دې‌خوا پېښې د دې سبب شوې‌دي چې هاخواته پښتانه په افغانستان کې خپله تکيه‌ګاه او ملاتړ له لاسه ورکړي. د افغانستان د بې‌ثباتۍ يو لامل دا هم و چې پښتانه تيت و پرك پاتې شي او د ملت‌جوړېدنې انګېزه يې ورکه شي. مذهبي فرقې په‌کې وده وکړې، افراطيت په‌کې اوج ته ورسېږي او د وژنو او ترور لړۍ په کې ښه پربمانه وي. د مجاهد او بيا طالب په نوم ډلو تشکيلېدل په واقعيت کې اسلامي انګېزه نه‌وه، بلکې يو سياسي هدف و او هغه هدف دا و چې څرنګه پښتني ټولنه په افتراق او وېشلې ډول وساتلی شي؟

**اوس هغه مشهوري خبرې ته راځوا چې وايي** : تاريخ هغه څه مطرحوي چې د حلولو وس يې ولري. د همدې اړتيا لهمخې د"پښتون ژغورنې غورځنګ" وزېږېد. د دې زېږون اراده د تاريخ اراده ده، نه د اشخاصو غوښتنه. دا يو غبرګون دی. د پښتنو د ژوند او پاتې کېدو لپاره د قومي لاشعور په بستر راټوکېدلی يو ارمان دی. دا کومه نوې پېښه نه‌ده، بلکې کله چې په ولسونو کې د هغو د بربادۍ توپان راپورته شي؛ ارو مرو د هغو له تېر تاريخه او ماضي کې موجود حرکتونه بياځلي راپيدا کېږي.

شك نه‌شته چې په برو پښتنو کې امپراتورۍ جوړې شوې‌دي، پادشاهيانې جوړې شوې دي؛ خو له‌دې انکار نه‌شي کېداې چې

ولسي غورځنګونه د کوزو پښتنو لهمنځه راپورته شوي. بایزید روښان ګورو، خوشال‌خان خټك ګورو، بیا خدایي خدمتګار او سور پوشان او پاچاخان ګورو، فقیر ایپي میرزاعلي‌خان ګورو چې د تاریخ په مقاطیعو کې یې غورځنګونه او جنبشونه رهبري کړي‌دي او د ظلم، استبداد او وحشت پر ضد راپورته شوي‌دي.

که تېرې ماضي ته ګورو. دې ته ورته شرایطو کې بایزید روښان پهداسې حالاتو کې سر راپورته‌کړ چې مغلو د هند په پښتون مېشتو سیمو یرغل وکړ او پښتنو خپل بچیان پهخپله وژل چې د مغلو لاس ته ورنهشي. بایزید روښان له هنده په هماغو حالاتو کې پښتونخوا ته راغی او لهدې ځایه یې د ګورګاني امپراتورۍ ضد معتدله صوفیانه مبارزه پیل کړه.

د بایزید روښان دا مکالمه ډېره مشهوره او مهمه ده چې په کابل کې یې د قاضي‌خان سره په یوه مناظره کې ویلې وه:

"قاضي‌خان ورته وایي، راشه او زموږ ملګری شه! لهدې جاهل قوم سره څه کوې؟

روښان ورته وایي، زه خداې پاك د همدې "جاهل "قوم لارښوونې ته پیدا کړی یم."

(کلیمات دلیکوال دي . دا مناظره متن په حالنامه کې شته )

د خدای خدمتګارو غورځنګ په ډېر سولهییز ډول را منځته شو او د مهاتما بده په څیر یې د خپل قوم د بیدارۍ لپاره د اسرافیل شپېلۍ وغږوله. په قوم کې یې د ازادۍ او خپلواکي لپاره ناره وکړه او په میلیونونو انسانانو د جواهر لال نهرو په قول ـ چې په هند کشف کتاب کې یې اشاره کړې ـ له پاچا خان سره ودرېدل او سولهییزه مبارزه یې پیل کړه. نهرو وایي:

جواهر لال نهرو ـ چې د پښتون له کرکټر سره ښه اشنا دی ـ د پاچا خان کارنامه یوه معجزه بولي او په حاضره مقطع کې یا د هغه وخت د قبایلي جوړښت په اډانه کې پښتون ګوري؛ خو دقت یې دا وي چې د پښتون ولس رواني او روحي ظرفیت ته د قومي تحت‌الشعور له زاویې ورګوري. هغه پهخپل اثر کې د منفي غبرګونونو په اړوند یادونې کړې دي او ویلي یې دي:

« په وروستیو وختونو کې په هند کې له هغو تولو پېښو هېڅ بل شی دومره د حیرانتیا وړ نه وو چې عبدالغفارخان څنګه وکړای شول د دې سیمې کم‌حوصله او جګړه‌مار خلک یې دې ته اړ کړل چې له سولهییزو روښونو نه پهخپلو سیاسي فعالیتونو کې کار واخلي. پهداسې حال کې چې دا ډول مبارزه د رنځونو له زغملو

او د زیاتو کړاوونو له ګاللو سره یوځای وه. په واقعیت کې دغه کړاوونه وو چې ډېرې ترخې خاطرې یې پرېښودې. همدارنګه په خلکو کې په خپل نفس باندې لاس‌برې او انضباط د دې سیمې په خلکو کې پهدې اندازه وو چې پښتنو ان په یو قهرامیزه اقدام سره د حکومت د قواوو پرضد له نورو مخالفانو سره شخړه ونهکړه. که یاد ته راوړو چې یو پښتون ته خپل ټوپک له ورور نه زیات ګران وي، په اسانۍ په قهرېږي او تل یې داسې شهرت لرلو چې په ډېرې لږې هڅونې سره خپل دوښمن وژني؛ دغه انظباط او قیود ـ چې له دوی ولیدل شول ـ له یوې معجزې سره شباهت لري.» (جواهر لال نهرو .کشف هند : ٦٣٦)

فقیر ایپي میرزاعلي‌خان صوفي او عارف شخص و. کله چې د استعمار ضد د غزا او د هېواد د خپلواکي لپاره اړتیا شوه. هغه خپله لنګرخانه وتړله اوسرفروشه مریدانو یې مبارزې ته ودانګل؛ خو د پاکستان له جوړېدو نه پس او د خدایي خدمتګارو د غورځنګ نه پس یوه جدي تشه را منځته شوه. سولېدلو او کلیشه‌یي ګوندونه ـ چې د پښتنو د داعیې دعوه‌دار وو، ورو ـ ورو په استعماري اداره کې منحل شول. همدا شرایط و چې د پښتون‌ژغورنې غورځنګ یې راوزېږولو.

د دې غورځنګ د لایحې لومړۍ او دویمه ماده پهدې ټینګار کوي چې دا غورځنګ نه سیاسي ګوند دی او نه د کوم سیاسي ګوند او جریان برخه ده؛ خو د هر ګوند او ټولنیزو، خیریه‌تنظیمونو افراد په‌کې را ټولېدای شي.

دویمه ماده یې ولسواکۍ او پارلمان ته د درناوي ترڅنګ د تحریک پر قومیتوب او ناپارلماني‌حیثیت ټینګار کوي.

پارلماني سیاست د پاکستان په څېر هېواد کې د لږه‌کیو لپاره پامور نتیجه نهلري؛ له همدې امله د غورځنګ قومي رنګ ساتل په قوم او ټولنه کې د هغه د بقا ضمانت کوي.

په همدې اساس:

* د منظور پښتین خولې د حق‌غوښتنې پر سېمبول بدلېږي. نجونې او هلکان یې په یوشان پر سروي او پر دې سېمبول ویاړي.

د تحریک له مرکزي کمېټې نه د پارلماني غړیو اېستل د دې ګوند د مشرتابه خورا ځیرکانه او سنجول شوې پرېکړه ده او د دوو مهمو پارلماني غړیو غبرګون یې هم خورا معقول او سنجیده دي.

دا تجربې د پښتونخوا د سیاسي تاریخ په مطالعه کې هم د درک او مشاهدې وړ دي.

مارکس د لوی بناپارت د اتلسم برومر اثر په لومړي مخ کې لیکي:

"انسانان خپل تاریخ جوړوي؛ خو داسې نه چې څنګه یې غواړي یا پهداسې شرایطو کې چې خپله یې غوره کړيدي؛ بلکې په ورکړلشویو شرایطو کې ـ چې د تېر وخت میراث دی او خپله انسانان د هغه له شرایطو سره په مستقیمه توګه ښکېل دي ـ د ټولو تېرو نسلونو د دودونو بار په ټول وزن او دروندوالي سره لکه ډاروونکی کابوس یا اژدها د ژوندیو په مغزو درندېږي."

یوه بله خبره هم را یادوو چې د ولس له جمعي ارادې سره تړاو لري:

"د ټولنیز ناخبريشعور له تعریف نه جوتېږي چې فرد او په واقعیت کې ټولنه په معمول ډول د ټولنیز ناخبري شعور له موجوده نفوذه د خپلو چلندونو او سلوکونو پر بنیاد خبرتیا نهلري. د نړۍلید ربښې تر زیاته اندازې د شخصي او جمعي ناخوداګاه نه خړوبېږي. پردې بنسټ ناخبريشعور د یوې ډلې یا د یو ملت او یا د یو نژاد د میراثي بېلګو او یا "زړېبلګو" (ارکيټایپونو) دنني موندنه او احساس هم دی چې پهخپله د حاکم ټولنیز حالت پر مهال د هغې ډلې یا ملت او یا نژاد محصول دی. د دې دوو سطوحو توپیر ساده کار څکه نهدی چې هر یو یې پر بل اغېز لري او د وخت په تېرېدو معاصره فرهنګي لایه یا پرده په موروثي جمعي ناخوداګاه بدلېږي."۳۰ مخ ولودیمیر والتر اوداینیك .یونګ وسیاست ."اندیشه ها سیاسي واجتماعي کارل ګوستاویونګ. ترجمه علیرضا طیب . نشر نې . ۱۳۸۸چاپ دوم

اوس د همدې شننې پر بنیاد پي. ټي. ایم ته راځو:

په پښتنو کې هم د استبداد، مغلوالي، ګرګینوالي، انګریزوالي او منطقهیي اسراییلوالي (پاکستانیتوب) پرضد عصیان او را پاڅېدنګ د یو فرد او یو کس کار نهدی؛ دا د پښتنو په قومي لاشعور کې ویده پرته ایدیا ده چې ولسونو ته معرفت ورکوي او د تاریخي جبر لهمخې یې راپاڅېدلو ته هڅوي. په اوسنیو شرایطو کې د ځوان نسل را ټولېدل د پي. ټي. ایم پر شاوخوا له هغه فکره عبارت دی چې ورځ تر بلې په ماديقوت بدلېږي. دا ماديقوت، به د تاریخي جبر یا ډیټرمینزم پر اساس خپل رسالت سر ته رسوي. ما د منظور پښتین څو بیانیې اورېدلي دي. ما ته یې روښان رایاد کړ چې مخالفینو یې ډول ـ ډول تورونه پرې ولګول؛ خو د روښان پیر په ټولو اثارو کې یوه بده خبره هم د اخوند درویزه په تړاو نهشته؛ بلکې هغه پهخپل رسالت پسې تللی دی. ځېنې په ناسمپوهاوي سره وايي چې د روښان مبارزه د هغه وخت د تحریك د ختمېدو سره پای ته ورسېده او ناکامه شوه؛ خو زه وایم، د پښتو اداب او د پښتنو فرهنګ غوړېدا او د پښتو ژبه روښانیانو له دوزخه راوویسته او د جنت یا د خیرالبیان ژبه یې کړه. پاچاخان باندې کلونه ـ کلونه تورونه ولګول شول. ان تر دې چې هندو ورته وویل شول او لا ویل کېږي ؛ خو هېڅوك د پاچاخان په ویناوو کې یوه منفي او بده خبره ـ چې له اخلاقي موازینو سره په ټکر کې وي ـ د هغه د مخالفانو په تړاو څوك نهشي موندلی. منظور سره لهدې چې ډېر ځوان رهبر دی؛ خو ان له اوسه د هغه معنوي اثر پر ځوان نسل ډېر جوت دی. دا یواځینی جریان دی چې د پښتون ولس د تاریخي غوښتنو او هویت د بسیا کولو لپاره مبارزه کوي. دا د یو کاروان حیثیت لري. دا کاروان نه په افراطیت بندېدلي شي او نه د توپ او زندان په وسیله؛ بلکې منزل ته به رسېږي. مشهوره خبره ده وايي: "کله چې مفکوره په خلکو کې نفوذ وکړي؛ په ماديقوت بدلېږي." دلته دغه مفکوره د قامولۍ او پښتونولي مفکوره ده او د پي. ټي. ایم دنده ګرځېدلې ده.

پای



# محدودیتهای ترانزیتی پاکستان در برابر افغانستان مانند تطبیق سیاست اسراییل در غزه است!



دوکتور نوراحمد خالدی

سیاستهای خصمانه پاکستان در برابر افغانها و افغانستان ابعاد تازه یافته است .

پاکستان تلاش کرد تا در تشکل نظام سیاسی آینده افغانستان دست بالا داشته باشد. حوادث بعد از پانزدهم آگست سال 2021 نشان داد که پاکستان از نفوذ فوق العاده خود بالای طالبان برای نصب یک دولت کاملاَ مطیع استفاده نمود. در حالیکه پاکستان با بی میلی، نقش تعیین کنندهٔ ایالات متحده را در قبال افغانستان پذیرفت اما از به حاشیه رفتن خود در مذاکرات دوحه ناراضی بود. اما طولی نکشید که بعد از اشغال کابل توسط طالبان اختلافات میان گروههای شامل تحریک طالبان در مورد ترکیب دولت جدید امارت اسلامی ایجاد این دولت را به مشکلات مواجه نمود. در حالیکه انتظار می رفت ملابرادر و اعضای برجستهٔ تیم مذاکراتی طالبان در دوحه پستهای مهم دولتی را اشغال کنند اما با مخالفت شدید گروه حقانی که از حمایت نزدیک آی اس آی یا سازمان استخبارات نظامی پاکستان بر خوردار است و قوماندانی عملیات نظامی را در افغانستان به عهده داشتند مواجه شدند و با مداخلهٔ رییس آی اس آی که به کابل مسافرت نمود کنار زده شده به پستهای درجه دوم و سوم مقرر شدند و در عوض آنها گروههای افراطی داخل رهبری طالبان و گروه حقانی پستهای رییس الوزرأ، وزارت داخله، وزارت دفاع و معاونیت اداره امنیت ملی را بدست گرفتند.

بدین ترتیب بدون شک با به قدرت رسیدن طالبان در کابل پاکستان برندهٔ اصلی بوده و تصور میکردبه اهداف خود در افغانستان نایل میگردد .

اما چرا پاکستان از طالبان حمایت می نمود؟ برای به قدرت رساندن یک حکومت وابسطه، به هدف کنترل سیاست خارجی حکومت افغانستان، مهار کردن ناسیونالیزم پشتونهای دوجانب و تعویض آن به اسلام گرایی افراطی، کنترول جنبش آزادی خواهی بلوچها، ایجاد عمق استراتژیک در مقابله با هند و جلوگیری از نفوذ هند در سرحدات غربی پاکستان و تأمین خطوط ترانزیتی مطمٔن پاکستان با کشورهای آسیای میانه از طریق افغانستان .

رسیدن به اهداف بالا در حقیقت جوهر پالیسی افغانستان تمام حکومتهای پاکستان بعد از سقوط نظام سلطنتی محمد ظاهرشاه در افغانستان بوده اند و برای تحقق آن حکومات پاکستان به یک بازی بزرگ استعمار جدید در ارتباط با افغانستان مشغول است. با سقوط دولت جمهوری و به قدرت رسیدن مجدد طالبان در۱۵ آگست ۲۰۲۱م به نظر میرسید که برندهٔ اصلی در این بازی بزرگ قرن بیست و یکم، پاکستان میباشد. اما در دو سال مابعد روابط طالبان با پاکستان روبه خرابی گذاشت و اکنون با تطبیق سیاست خصمانه در مقابل ناقلین و مهاجرین افغان توسط صدراعظم مؤقتی پشتون تبار پاکستان، که به تأیید خودش با حمایت جنرالهای اردو به قدرت رسیده، این روابط به خرابترین حالت خود رسیده است.

اخیرا به بهانه تلاش برای جلوگیری از قاچاق و تقویت کنترل بر تجارت ترانزیتی، اداره فدرالی عواید پاکستان (FBR) و وزارت تجارت پاکستان یک سلسله اقدامات سختگیرانه را اعمال کرده اند که بر ترانزیت واردات تجارتی به مقصد افغانستان تأثیر می گذارد. این ابتکارات شامل ممنوعیت عبور چندین قلم امتعه تجارتی به مقصد افغانستان، تحمیل تعرفه های ترانزیتی، وافزایش تفتیشهای نظارتی بر محموله های ترانزیتی به مقصد افغانستان است .وزارت تجارت پاکستان ترانزیت اقلام مختلف را به افغانستان ممنوع اعلام کرده است که شامل پارچه جات



نساجی، تایر موتر، چای سیاه، لوازم خانگی، لوازم آرایش، لوازم تشناب و میوه جات خشک میباشد. همزمان، 10 درصد تعرفه را بر روی دسته های عمده امتعهٔ ترانزیتی افغانستان اعمال کرده است که شامل قنادی، چاکلیت، کفش، ماشین آلات، پتو، منسوجات و غیره می شود. همچنان بررسی دقیق و مجدد محموله ها را در جریان ترانزیت بعد از ترخیص از بندر وارده اتخاذ گردیده است. مقررات وضع شدهٔ جدید همچنین شامل ارائهٔ ضمانت نامه بانکی برابر با تعرفه ها و مالیات برای محموله ها الزامی شده است تا اطمینان حاصل شود که محموله ها به مقصد مورد نظرشان در افغانستان می رسند. به ظاهر این اقدامات پیشگیرانه در پاسخ به نگرانی های فزاینده در مورد قاچاق امتعهٔ وارداتی افغانستان از طریق پاکستان صورت می گیرد. گفته میشود تعرفه پایین گمرکی در افغانستان و اعمال محدودیت های خاص وارداتی توسط پاکستان، باعث تبانی بین شرکت های تجاری در این دو کشور برای استفاده از فرصت های تجارت ترانزیتی شده است. این اقدامات خصمانه بر ضد افغانستان در زمانی صورت می گیرد که تجارت ترانزیتی افغانستان از طریق پاکستان در طی سال مالی 2022-2023 نسبت به سال مالی قبلی افزایش خیره کننده 67 درصدی داشته است.

این اقدامات پاکستان شباهتهای زیادی با محدودیتهای وضع شده ترانزیتی اسراییل بر غزه دارد .در حالی که زمان بندی این اقدامات سوالاتی را ایجاد می کند، به خصوص به دلیل اینکه برخی از محدودیت های واردات اخیرا کاهش یافته بودند، عوامل سیاسی ممکن است نقش اصلی در تغییر موقف پاکستان داشته باشند. تنش های اخیر در امتداد مناطق بین پاکستان و افغانستان ممکن است بر این تصمیم تأثیر گزار بوده باشند .این تحولات می تواند پیامدهای ناگوار اقتصادی برای افغانستان داشته باشد، زیرا این کشور ممکن است مجبور شود مسیرهای ترانزیتی طولانی تر و پرمصرفترا به دلیل محدودیت ها در پاکستان انتخاب کند. برای پاکستان، افزایش مصارف ترانزیتی و مشکلات وضع شده در مسیر راه می تواند به طور بالقوه منجر به تغییر استفاده از پاکستان به عنوان یک کشور مناسب برای ترانزیت افغانستان شود، که می تواند موانع بیشتری را برای اقتصاد خراب در حال حاضر آن کشور ایجاد کند.

در عین زمان خلاف تعامل ۱۳۵ سال گذشته وضع مقررات داشتن پاسپورت و ویزه از طرف حکومت موجوده پاکستان برای باشندگان قبایلی دو طرف خط دیورند برای رفت و آمد عنعنوی آنها فشارهای سیاسی مزید پاکستان بالای طالبان است. باید به خاطر داشت که آزادی باشندگان قبایلی دو طرف خط دیورند برای رفت و آمد عنعنوی آنها در معاهده سال 1921 کابل تضمین شده بود.

سی سال قبل، هنگامی که رئیس جمهور ضیاالحق فهمید که امریکا دیگر علاقمند حضور در افغانستان نیست، سیاست پاکستان را در مقابل افغانستان تعریف کرد، که تفاوت چندانی با سیاستهای دولت استعماری هند برطانوی در افغانستان نداشت: وی اظهار داشت که "ما حق داشتن یک قدرت را در کابل کسب کرده ایم که نسبت به ما بسیار دوستانه باشد. ما به عنوان یک کشور خط مقدم خطرات جدی را پذیرفته ایم و اجازه بازگشت به وضعیت قبل از جنگ را که با نفوذ گسترده هند و شوروی و ادعاهای افغانستان در مورد کشور خودما مشخص شده بود، نمی دهد.

در این روزها دوسال بعد از خروج امریکا از افغانستان، این برداشت به همان پیمانه صادق است که سی سال قبل سیاستهای پاکستان



را در مورد افغانستان تعیین مینمود. حمایت همه جانبهٔ پاکستان از طالبان برای به قدرت رساندن یک حکومت وابسطه بود به هدف کنترل سیاست و تجارت ترانزیتی خارجی حکومت افغانستان . مهار کردن ناسیونالیزم پشتونهای دوجانب و تعویض آن به اسلام گرایی افراطی، کنترول جنبش آزادی خواهی بلوچها، ایجاد عمق استراتژیک در مقابله با هند و جلوگیری از نفوذ هند در سرحدات غربی پاکستان و تأمین خطوط ترانزیتی مطمَئن پاکستان با کشورهای آسیای میانه از طریق افغانستان جوهر سیاستهای دولتهای پاکستان را در قبال افغانستان در طول پنجاه سال اخیر تشکیل داده است. برای پاکستان احراز سیاستهای مستقلانه توسط مقامات طالبان خیانت در برابر تعهدات آنها در برابر ولینعمت پاکستان است.

# پښتانه طالبان د پښتنو استازولي نه کوي

اتل سالار هاشمي

دا خبره له ډېره وخته په خواله رسنیو کې کېږي چې پښتانه طالبان دي، اوسنی حکومت د پښتنو دی او طالبانو د پښتنو نمایندګان دي. که واقعیت ته وکتل شي په سړه سینه غور وشي، نو دا خبرې یوازې د احساساتو له مخې شوې دي، حقیقت نه لري.

که دوی دا خبره دغه ډول کړي وای چې لویه برخه طالبان پښتانه دي، بیا سهي وه، غوڅ اکثریت یې پښتانه دي، خو له دې سره سره د پښتنو نمایندګي نه شي کولای او نه پښتنو طالبانو ته خپله استازولي ور کړې ده.

د همدغو طالبانو له لاسه څومره پښتانه وژل شوي دي؟ د پښتنو په سیمو کې یې څومره بد امني جوړه کړې وه؟ د پښتني سیمې سړکان او عامه المنفعه ځایونه د همدې طالبانو له لاسه وران وو، مکاتب د همدوی له لاسه بند وو، د پښتنو د ترقۍ مخه دوی نیولې ده، په غربت او فقر کې د پاته کېدا سبب یې همدا طالبان دي.

پښتنو کله هم جرګه نه ده کړې چې خپله رایه یې طالبانو ته ور کړې وي، نو بیا طالبان چا، څنګه او څه وخت استازي کړل؟

د طالب په اړه سمه خبره دا ده چې دوی افراطي فکره دي او افراطیت سمت، قوم، ژبه، رنګ، هیواد او ولایت نه لري، له عربو تر عجمو افراطیان ټول سره لینک دي، له ختیځه تر لوېدیځه په هر هیواد او هر ځای کې شته، نه تر یوه هیواده خاص دي، نه تر یوه قومه او نه په اسلام کې دننه تر یوه مذهبه. البته دومره ویل سهي دي چې له یوه قومه یا درست هیواد څخه نسبت نورو قومونو یا هیوادونو ته زیات وي، دغه خبره د طالبانو په اړه صدق کوي چې لویه برخه افراطیان یې پښتانه دي، اما په هیڅ صورت د پښتنو استازي نه دي او نه به شي.

افراطیت پر قوم او ټبر سره وېشل خپله د دې پدیدې خطرناک بعد دی، په دې ډول هغه جهت چې د افراطیت مقابله کوي، کمزوری کېږي. لکه څنګه چې افراطیان تر خپل منځ ځانونه یو موټی ښیي، یا هم واقعي دغسې دي، باید هغه څوک چې د افراطي فکر مقابله کوي، هغوی هم یو موټی واوسي.

پر لوېدیځ وختیځ، جنوب و شمال وېش د دغې مبارزې د کمزوري کېدا لومړی ګام دی. د افراطیت خلاف مبارزه اصلا د اشخاصو خلاف نه ده، بلکې دا د یوه فکر خلاف ده. دغه فکر چې هر څوک ولري، له افراطیت سره د مبارزې د ډګر سرښندونکي هڅه کوي چې د هغه فکري اصلاح وکړي.

د دغې مبارزې په ډګر کې هر څوک شته، خورا ډېر دیني عالمان هم د دې لارې لارویان دي، ژورنالیستان، لیکوالان او ډېر نور اهل فکر و نظر کسان پر همدې محور را ټول دي. دوی دا درک کړې ده چې څو موږ افراطي فکر په نطفه کې خنثا کړی نه وي، یوه هوسا ټولنه نه شو جوړولای، یو ښه جوړ او امن هیواد نه را پاتېږي، یو غوره نظام د افراطیت په شتون کې امکان نه لري. له دې امله لومړی باید د دغه فکر خلاف مبارزه وشي، څو خلک اصلاح شي، تر دې وروسته بیا د خپلو متو په زور هر څه ممکن دي.

که څوک له افراطي فکر سره د مبارزې پر ځای هڅه کوي چې په دې نوم له یوه قوم، مذهب، سمت او ولایت سره مبارزه وکړي، نو په لوی لاس د دښمن ټبر ته لاسته ور اچوي. دا بیا په همدې افراطیت کې یو بل بعد را پیدا کول دي چې اصلا د ټولو هغو کسانو لپاره خطرناک کېږي چې له افراطیت سره مبارزه کوي او له دغه ادرسه یې خوږ لیدلي وي، یا هم ورته سرخوږی وي.

افراطي که د مشرق که د مغرب دی، د نظام د چلېدا انداز یې یو دی(له شاعر څخه په ډېرې بخښنې)، دوی د یوه فکر لپاره مبارزه کوي، یو هدف یې دی. اسلامي نظام راوستل. دا چې اسلامي نظام څه دی؟ دا بیا دوی په خپل فکر تعبیروي، هر څوک چې یې په مشرق کې مخالفت کوي که په مغرب کې، هغوی په همدې یوه ټاپه نازوي چې د خدای نظام نه مني.

دوی خپلو خبرو ته د خدای د خبرو پوښ ور کوي، خپل فکر د اسلام په نامه تېروي، خپل عمل ته د اسلامي چارې جامه ګندي، له دې څخه یې هدف دا دی چې خلک یې مخالفت ونه کړي، که څوک یې مخالفت وکړي، له هغه سره د مبارزې لپاره ښه پلمه او توجیه ورسره پاته شي او ساده خلک په همدې نوم د ځان ملګري کړي، څو یې ډله غټه شي او پر خپلو مخالفانو برلاسي شي.

نو که څوک دې سپېڅلې مبارزې ته ژمن وي، د افراطیت خلاف په مبارزه کې دې نور نومونه نه راباسي. دغه مبارزه نه یوازې دا چې له افراطیانو څخه هیواد او ملت ته نجات ور کوي، بلکې د خدای له مقدس دین څخه د ناسم، پر شخصي ګټو ولاړ، له زمان، مکان او چاپېریال سره د ناهماهنګه تفسیر مخه هم نیسي.

افراطیان په خپلو کړنو سره نه یوازې دا چې دین ته زیان رسوي، بلکې زموږ ټولنه او وطن هم ورسره ضررویني. دا فکر لکه ساري ناروغي، نورو هیوادونو او ټولنو ته زموږ له هیواده د خپرېدا وړ دی او في الحاله دا چاره جریان لري.

شمال خوا ته تاجکستان شکایت لري چې موږ ته د افغانستان له لورې خطر متوجې دی، جنوب او جنوب ختیځ لور ته پاکستان شکایت لري چې موږ ته له افغانستانه وسله وال راځي، دلته نا امني جوړوي.

په دې لار کې مبارزه نه یوازې زموږ د هیواد لپاره حیاتي ارزښت لري، بلکې د ټول بشر لپاره مهمه ده. افراطیت یوازې د هغه بشر دښمن نه دی چې په افغانستان کې دی، د طالبانو د همدې اوسني مشر بیان به مو اوریدلی وي چې لوی اختر کې یې کړی دی، هغه په قسم وایي چې که د نړۍ په هر کونج کې مسلمان ته تکلیف ورسیږي، نو دوی یې کومک ته تیار دي.

دا خبره په خپل ذات کې داسې ده چې که د نړۍ په هر کونج کې افراطیانو ته تکلیف وي، دوی افراطیان به یې مرسته کوي.

له مسلمان څخه دوی هغه مسلمان ښیي چې د دوی په اند مسلمان وي، نه هغه چې موږ یې مسلمان بولو یا په حقیقت کې مسلمان دی.

افراطیانو ته یوازې هغه څوک مسلمانان ښکاره کېږي چې د دوی په شان فکر ولري او له دوی سره په یو نه یو ډول د همدغه فکر لپاره همکار وي.

د هبة الله اخوند زاده له دې خبرې څخه دا درک کولای شو چې افراطیت پولې نه پېژني، که وخت او توان پیدا کړي، هر ځای هغه خطر جوړولای شي او جوړ کړی یې هم دی لکه زموږ په هیواد کې چې بالفعله جوړ دی.

لطفا د دې ډګر پاکه مبارزه د قوم، سمت او مذهب په نومونو مه بدناموئ، دغه مبارزه د بشر، وطن او دین د ژغورنې مبارزه ده، هر څوک چې په دې ارزښتونو کې هر ارزښت ته وفادار وي، باید د افراطیت خلاف دغه سنګر کې د مبارزې لپاره وخت ور کړي. له افراطیته د خلاص یوه روڼ سباوون په تمه!

## په ژمی کې د یخنی له وجې د پښو او لاسونو د ګوتو سوروالی او پړسیدل

په ژمي کې د یخنې له وجې دپښو او لاسونو دګوتو سوروالی او پړسیدل یا chilblains

ـ په پوستکي کې کوچنې، خارښ سوروالی او پړسوب رامنځ ته کیږي چې د سړې هوا او تودوخې په غبرګون کې واقع کیږي.

یعنی چې څوک په یو وخت کې دسړې هوا سره مخ سي، وروسته بیا یو دم دتودې هوا سره مخ سي دا حالت رامنځته کیږي.

ډیر وختونه د بدن په پښو کې رامنځ ته کیږي ، لکه د پښو ګوتو کې، غوږونو او پوزې نارمه کې هم کیدی شي. Chilblains، مګر په قدرت سره د دایمي زیان سبب کیږي.

نښې نښانې_sign_symptoms :

د chilblains نښې او نښانې په لاندې ډول دي :

ستاسو په پوستکي کې کوچنې، خارښ لرونکي سوروالی، ډیری وختونه ستاسو په پښو یا لاسونو کې وي.

ـ ممکن د پوستکي زخمونه یا پړسوب رامنځ ته شي.

ـ ستاسو په پوستکي کې د سوځیدنې احساس موجود وي .

ـ د پوستکي رنګ کې بدلون له سور څخه تور نیلي ته، د درد سره امکان لري یو ځای وي

درملنه_Treatment :

د چیلبلینز لپاره د درملنې لومړۍ کرښه عموما د لاسونو او پښو تودوخې او وچ ساتلو اقدامات شامل دي ، لکه ستاسو د کور دننه چاپیریال تودوخه او وچ ساتل ، د دستکشې او جرابې کارول ، او د اړتیا په وخت کې د لوندوالي له وجې دستکشې او جرابې بدلول.

که چیرې چیلبلین د دې کورنۍ درملنې سره ښه نه سو، نو لاندې تابلیت وکاروی. Tab ..Nifedipine (Procardia) دوه وخته.

دا ډول درمل دوینې فشار د وینې رګونو خلاصوی او د دوران ښه کولو کې د مرستې له لارې د چلبلین درملنه کوي.

.یو موضوعی ملهم کورټیکوسټرایډ لکه Betametazon- Triamcinolon 0.5% –

په چیلبلینز کې د کورټیکوسټرایډ ملهم استعمالول د زخمونو په لرې کیدو کې مرسته کوي.

د ژوند طرزالعمل تغیر او کورنۍ درملنه :

ـ معمولا د یخنۍ سره له یو څخه تر دریو اونیو پورې پاکیږي. په ورته وخت کې، تاسو کولی شئ د خپلو نښو او نښو کمولو لپاره ګامونه پورته کړئ، :

ـ په اغیزمن پوستکی په نرمۍ سره پرته له دې چې مالش، مسح کول یا مستقیم تووخه تطبیق کړئ

هرکله چې امکان ولري د سړې تودوخې څخه مخنیوی وکړئ

ـ ستاسو اغیزمن پوستکی وچ او ګرم ساتل ، مګر د تودوخې سرچینو څخه لرې

ـ د خارش د کمولو لپاره د لوشن کارول

ډاډ ترلاسه کړئ چې اغیزمن پوستکی د انټي سیپټیک سره پاک شوی او په نرمۍ سره تړل شوی ترڅو د انفیکشن مخه ونیسي.

ـ د ګرولو څخه ډډه وکړي.

ـ سګرټ څکول پریښودل، ځکه چې سګرټ څکول ستاسو د وینې رګونه محدودوي او د زخم درملنه ورو کوي.

# د فیسبوک پر وړاندې



قدرت الله هېوادپال

پر ټکنالوژۍ اعتیاد کې یو بحث ټکنالوژیو یا ټکنالوژۍ وسیلې ته شخصیت ورکول دي، لکه یو څوک ګرځنده ټلیفون کاروي، پدې ټلیفون یې د ژوند ډیرې چارې رواني وي، له اړیکو نیولې تر انټرنېټ، ټولنیزې شبکې ټولې د ټلیفون له لارې پالي، ځینې وختونه له ډیر کارولو سره دا ټلیفون کاروونکي ته شخصیت پیدا کوي، دا شخص فکر کوي چې دا هر څه د دې ټلیفون له برکته دي، او کوم وخت چې ورسره دا ټلیفون نه وي، د ورکې احساس کوي. داسې پیښې هم لیدل شوې چې ځینې دې ټلیفون ته نوم ورکوي یا ځینې د خپلې ټولنیزو شبکو پر حسابونو دومره پام کوي لکه خپل ماشوم چې پالي.

بیلابیلې څیړنې وایي چې سترې ټولنیزې شبکې په خپل جوړښت کې اروا پوهان او بازار موندنې متخصصین لري، دا شبکې هڅه کړې چې داسې ځانګړنې طراحې کړې چې کاروونکی ډیر وهڅوي د دوی له وسیلو کار واخلي، او ورسره یې پر ځان روږدي کړي، دا شرکتونه هڅه کوي چې د کاروونکو لخوا د دوی وسیلو ته د شخصیت ورکولو هڅې وهڅوي او په پای که چیرې دا وسیلې ونه کاروی نو هغه د چرسیانو غوندی د نن کش درځخه پاتې وي یا د یو څه ورکې احساس پیدا کوي.

نن سبا د فیسبوک او په عموم کې د ټولنیزو شبکو بندولو بحث شکته پورته کیږي، وړاندې مې د اعتیاد بحث ځکه وکړ سره لدې چې دا شبکې د نن د ژوند یو ستر واقعیت دی، خو د اعتیاد یا په خلکو کې د هغې د ډیر استعمال له کبله ارزښت یې له ضرورت زیات پرسول شوی دی.

ضرور نه ده چې فیسبوک دی د هر مرض دوا وي، خو شبکو پر کاروبار، سیاست، اقتصاد، دودونو، او نورو هر اړخیزه اغیزه کړې ده، او تر ډیره بدیل نه لري او ځوان نسل ته رسیدو لپاره باید وکارول شي.

د فیسبوک ارزښت د هغې په شمیر او استعمال کې هم دی، لومړی که له شمیریزه اړخه وګورو نو فیسبوک څښتن شرکت د انسټاګرام او واټس آپ ملکیت هم لري، چې په شمیریزه توګه دا شرکت د نړۍ تر ټولو ډیرو کاروونکو معلوماتو ته لاسرسی لري. همدې شمیریزه برترۍ بیا د شبکې اغیزې پیدا کړې، د ټولنیزو شبکو اصل پر اړیکو روان وي، یعنې د دې شبکو ارزښت پدې کې دی چې ستاسې په چاپیریال، ملګرو یا هیواد کې یې څومره خلک کاروي، او همدا د ډیرو ملګرو او اړیکو لخوا د دې شبکو کارول نور هم مجبوري چې ټولنیزو اړیکو لپاره دې شبکو ته مخه کړي.



د شبکې یا اړیکو اغیزې دې رسنیو ته واک ورکړی، لکه روس او چین خپلې ټولنیزې شبکې لري، استرالیا یوه وخت فیسبوک سره ورانه شوه، اخیر دواړه سره جوړ راغلل او ډیرو ویل چې یوه دولت شخصي شرکت شرایط ومنل، برازیل او تر ډیره د جنوبي امریکا ځینې هیوادونه له ګوګل سره له اخبارونو د خبرونو د راخیستلو د

حقوقو پر سر وران شو، چې بیا هم د ګوګل خبره خلکو ومنله، دا شرکتونه د خپل استعمالوونکو د شمیر له کبله ځواکمن دي او په دې پاسنیو بیلګو کې تر ډیره ولس حکومتونو ته وویل چې بې ځایه سرزوري دې نه کوي.

سره لدې چې ځینې شایي ووایي موږ به د دوی لپاره خپل بدیل جوړ کړو، لومړی د ټکنالوژیو له اړخه پر دې زحمت نه ارزي، یعني په هغه ټکنالوژیو کې چې فیسبوک جوړ دی هغه نن سبا له موده پریوتي دي، فیسبوک پخپله د ټیک ټوک، سنیپ چیټ او ورته ټکنالوژیو له کبله په له جدي سیالۍ سره مخ دی، او د دې کال په دوو ربعو کې یې په لومړي ځل فعاله کاروونکي له لاسه ورکړي دي.

دوهم، په سیاسي توګه دا وسیلې د امریکا د سیاست او ژبې

شرکتونه دي او ډیر ستر اقتصاد غواړي چې دا شرکتونه او خدمتونه یې د نړۍ نورو هیوادونو ته وغځوي، د نړۍ د سترو ټکنالوژیو شرکتونه مالي ارزښت د ډیرو بیوزله هیوادونو له اقتصاده ستر دی.

نو ځکه خلک یې د بدیل په لټه کې نه دي، هغوی چې پر فیسبوک یې ایمان راوړی دی اکثراً هغه خلک دي چې د شبکې له مجبوریته ورسره بند پاتې دي، یا یې پکې ملګري دي، یا ملاتړي (فالورز) لري، یا یې پکې نوره پانګونه کړې ده، فیسبوک له څو اخیري کلونو راهیسې د نوو کاروونکو د جذبولو له ستونزې سره مخ دی.

اوس راځو د فیسبوک بندولو بحث ته، فیسبوک نه بندیږي، په ډیرو شایي دا بده ولګیږي خو نه موږ دا تخنیکي توان لرو او نه




وسیلې دي، لکه چین او روس ورته ښه بدیلونه لري، خو څرنګه چې د هغوی ژبه او سیاست نړۍ نه تعقیبوي وسیلې یې هم څوک نه کاروي، دریيم یې اقتصادي اړخ دی، شایي ځینې فکر وکړي د فیسبوک هر څه یې د ښتن دي، خو دا پر سهامو ولاړ

دا شرکتونه ځان دومره په آسانه بندیدو ته پرېږدي، له نن څو کاله وړاندې مصر هڅه وکړه بند یې کړي خلکو له نورو لارو ورته لاسرسی پیدا کړ، چین، ایران، روس ورته لاسرسی ستونزمن کړی خو بند نه دی، او نه پر بندولو ارزوي، زه یې دلته له تخنیکي

بحثه تیریږم خو لنډه چې د بندولو پر امکان لګیدونکي وسایل موږ کولای شو په بهتره توګه بل چیرې وکاروو.

وروسته، د افغان کاروونکو لیرې کیدل هم پر فیسبوک څه دومره اغیزه نه کړي، موږ نه هند یو او نه پاکستان، چې په سلګونه میلیونه کاروونکي ولرو، ټول د لسو میلیونو شاوخوا کاروونکي به وي چې پریکنده یې وړیا کاروي، نو بندول به یې یوازې د کبر او خودخواهۍ کوم احساس پوره کولو لپاره وي، پر هغوی به په کاروباري ډول څه اغیزه ونه کړي.

که څوک وايي چې فیسبوک یا ټولنیزو شبکو ته بدیل پیدا کړو، کله چې ډونلډ ټرمپ (د امریکا پخوانی ولسمشر)، چې په امریکا کې یو تر ټولو بډای شخص هم ګڼل کیږي، ټویټر او فیسبوک له خپلو پلیټفورمونو بند کړ، نو هغې هڅه وکړه چې خپله شبکه جوړه کړي، پر شبکه یې نږدې یو کال کار هم وکړ، یو څه امتحاني بریالیتوب یې ولاره، خو په اخیره کې پښیمانه شو.

دا نه ده چې خلک د فیسبوک بدیل نه لري، له درجن ډیرې ټولنیزې شبکې شته، چین او امریکا خپلې شبکې لري، هلته خو آن انټرنیټ هم تر یوه حده د هغوی په خوښه دی، په مسینجرو کې هر هیواد خپل کاروونکي لري، لکه د واټس آپ تر ټولو ستر بازار هند دی، چین، شرقي آسیا (اندونیزیا، تایوان، تایلینډ، ملایزیا، او نور) خپلې مسینجرې لري، هغوی هغه کاروي، خو دا ټول تر ډیره سیمه ییز شکل لري.

ټولنیزې شبکې د کاروونکو لخوا غښتلې کیږي، که چیرې په یوه شبکه کې ټول د یوه فکر او یو چم خلک وي نو هغه بیا ټولنیزه نه ده، یوازې ته ما ته خان وایه زه به تا ته ملک وایم کیسه ده، پر فیسبوک انتقاد هم نوی نه دی، ډیرو خلکو د مذهب په نامه هم خپلې شبکې جوړولو هڅې کړي دي، عیسیویان او هندوان یې ښې بیلګې دي.

د ښځې یا میړه له موندلو نه نیولې تر کار، مسلک، سندرو، شوقونو، آن هر څه لپاره ټولنیزې شبکې شته، هر څوک د پیژندنې څو اړخیزه شکل لري، ډیر کم خلک یوازې یوه شبکه کاروي، ډیر خلک له یوټیوب، واټس آپ، فیسبوک، ټویټر، ټیک ټاک او نورو ګټه اخلي.

د ټولنیزو شبکو بل اړخ د اعتبار دی، فیسبوک له خپلو ټولو نیمګړتیاوو سره غښتلی زیربنا لري، د ورځې نږدې اووه سوه میلیونه خلک دا شبکه کاروي خو تل فعاله وي او زیربناوې یې کار کړې، ورسره د کاروونکو د معلوماتو محرمیت دی، سره لدې چې د کامبریج انالیټیکا او ټاکنو کې د دې شبکې پر چارو نیوکې کیږي خو بیا هم تر ډیره معلومات محرم ساتي.

څه باید وشي، فیسبوک او ټولنیزې شبکې په عموم کې یو واقعیت دی، او ضرور نه ده چې د هر چا خوښ شي، داسې ډیرې بیلګې شته کله چې فیسبوک ځینې شرکتونو یا سیاسي څیرو ویبپاڼې بندې کړې دي هغوی نورو شبکو ته مخه کړې ده، ټیک ټوک یې ښه مثال دی، ډیرو هلته ځان فعاله کړی دی.

دا شبکې د خپل ارزښت له کبله هر اړخیزه استعمال لري، ضرور نه ده چې د یو اړخ استعمال کې ستونزو له کبله دې د ټولې وسیلې پر ارزښت سترګې پټې شي، هر کاروونکی باید پوه شي چې د څه لپاره یې کاروم، او کومه شبکه زما د دغه استعمال لپاره له ټولو ښه ده، ځکه وخت تاسې ورکوئ، دا شبکې ستاسې وخت خپل تجارت لپاره کاروي، هغه پر تاسې ده چې کومه شبکه زما د وخت ارزښت لري.



# ګڼ ودونه (تعدد زوجات)

زبیر افغان



ما داسې کور نه دی لیدلی چې هلته دې د یوه سړي دوې میرمنې وي، هغوی دې په ارامه ګوله پورته کړې وي، نه مې تر اوسه په کتابونو کې لوستي دي، چې په یوه کور کې د یوه سړي څو میرمنې وي، هغوی ښه ارام ژوند سره کاوه، بلکې ګڼو ودونو هر ځای د خلکو شخصي ژوند د دوزخ ژوند ګرځولی دی، نه یوازې دا چې د ښځو ترمنځ ستونزې وي، له مېړه سره یې اختلاف او جنجالونه وي، بلکې د دوو بنو د کورنیو ترمنځ هم نفرت وي، د اولادونو کرکه یې هم د هېرولو نه وي او له هرې ښځې سره چې خوک تعلق لري، د هغې ملګرې او اړیکپاله ښځې لا د هغې له بنې څخه بد وړي.

ګڼ ودونه انسانانو ته د ستونزو سبب شوي دي، ما چې څومره کسان پوښتلي دي، لومړي سر کې دویم واده ته پلمې لټوي، خو چې خپله یې تجربه کړي، بیا توبې کاږي. له دې سره چې نتیجه یې خونده‌وره نه ده، بیا ولې په اسلام کې ګڼو ودونو ته اجازه ور کول شوې ده؟

دا ډېره مهمه مسلمه ده، ټولنې ته له دې اړخ ګڼې ستونزې ور پېښې دي، په خورا دقت یې څېړل او تر خپله وسه داسې هڅه کول چې د ټولنې له اغېزه په دې برخه کې خپل ذهنیت پاک شي او بیا په دې اړه د قران کریم پر هدایاتو فکر وشي، نو به خبره روښانه شي چې قران هغه څه نه دي ویلي چې زموږ خلکو ترې اخیستي دي.

په اسلام کې ګڼو ودونو ته مطلق اجازه په هیڅ صورت نه ده ور کول شوې، قران کریم د مېړه او مابنې په اړه وایي:

{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} [الروم: 21].

ژباړه: او د هغه د(قدرت او شتون) له نښو یوه داده چې تاسو ته یې له انساني نوعې ستاسو جوړې پیدا کړې دي چې تاسو د هغوی په خوا کې ډاډمن کېږئ، ستاسو ترمنځ یې مینه او رحمت پیدا کړې، د هغو خلکو لپاره چې پر دې د فکر وړتیا لري، د عبرت نښې شته.

په دې ایت کې که فکر وکړئ الله تعالی د مېړه او مابنې ژوند یو بل ته د ډاډ وسیله وبالی، دغه زندګي یې د مینې او رحمت د پیدا کېدو ذریعه کړه او په دې توګه د ژوند تېرولو ښې نتیجې یې د مفکرینو په وړاندې ایښې دي چې تاسو د دې ټولنې او هغې ټولنې ترمنځ پر شته توپیرونو فکر وکړئ چې کومه یوه یې د پایلې له مخې د انسانیت په ګټه ده؟

تر دې وروسته که فکر وکړو چې د هیڅ ښځې بن نه خوښېږي، نو که د هغې له خوښې پرته بن کور ته راوستل کېږي، دا به د کور ډاډمنه، له مینې ډکه او د امن و خوشالۍ فضا حتمن تبا کوي، تاسو فکر وکړئ چې قران کریم څنګه د یوه کور د تباهۍ اجازه ور کوي؟ قران کریم یو لورته د کور په اړه هغه پاسنۍ نقشه زموږ مخې ته ږدي او بل لور ته بیا د هغې د ضد اجازه ور کوي؟

د نرانو د بې مهاره جنسي خواهشاتو د سړولو لپاره هغوی د ښځو د استعمال ګڼې طریقې ایجاد کړې دي، په جنګونو کې د میرمنو نیول او بیا ورڅخه بې قیده و شرطه جنسي استفاده، د دې بې مهاره جنسي سرېدنې ښه بېلګه ده، پر انسان چې له یوې خوا سختي را شي، بلې لارې ته تښتي، که یوه موکه خطا کړي، بل چانس ته پټ شي، په نړۍ کې چې د غلامۍ ظالمه بڼه ختمه او د بشریت پر لمن د دغه داغ د ختمولو لپاره خلک لاس په کار

شول، ورسره سمدستي په عقلي او مذهبي لحاظ د نرواکې ټولنې همدا وکمنه طبقه په دې لټه کې شوه چې د همدې تسکين لپاره يو بل حل پيدا کړي.

حل يې ګنو ودونو ته د اسلام بې قيد وشرطه اجازه وبلله، پر دې موضوع په عقلي لحاظ هم خلکو دلايل وړاندې کړل او له شرعي متن څخه هم د دې لپاره ډېر کار واخيستل شو. په ځينو اسلامي هيوادونو کې پر ګنو ودونو بنديز دی، خو نور بيا دا د اسلام يوه ښېګڼه بولي چې خلکو ته يې د ډېرو ودونو اجازه ور کړې ده، څو د بديو مخه ونيول شي او اسلامي امت ډېر شي.

د همدې استدلال مهال موږ دې ته نه ګورو چې که د بديو مخه نيسو، نو هغه بدي به څنګه کوو چې له ګنو ودونو په يوه کور کې را پيدا کېږي؟ که اسلامي امت په دې توګه ډېروو، نو د خوراک، تعليم، کار، کور، صحت او ګنو نورو اړتياوو په اړه به څوک تضمين راکړي چې له ډېروالي سره يې موږ د دې شيانو غم خورو؟ که خبره د الله لور ته حواله کېږي، نو الله تعالی هيڅا ته په خوله کې ګوله نه ور کوي، نه يو مريض په خپله جوړېږي، وږی به ډوډۍ په خپله همت تر لاسه کوي، بيا به ځان په مړوي او مريض په ډاکټر ته ځي، هغه به دوا ور کوي، بيا به رغېږي، تر دې وروځنۍ مشاهدې وروسته، دا خبره کول چې الله يې ور کوي، يوازې احمق وګړي کولای شي، چې له عقل او فکر څخه هيڅ کار هم نه اخلي، څوک چې يوه ذره عقل ولري، هغوی د دې ګنو ستونزو ځواب دا نه ور کوي چې الله يې ور کوي، هوښياري ټولنې  له دې زاويې را پيښو ستونزو ته حل لارې لټوي، زموږ خلک يې يوازې اسباب او علتونه چمتو کوي. موږ په خپله ټولنه کې هره ورځ خلک وينو چې د يوې ګولې لپاره سوال کوي، ښځې او ماشومان وينو چې بازارونو کې په دوکانو ګرځي او فقر کوي، ډېر کسان وينو چې په خوار ځواکۍ اخته دي او د کال په لکونو کسان مړه کېږي، که دا پوښتنه وشي چې خدای ولې دې کسانو ته خوراک او څښاک ور نه کړ، نو ځواب به مو چشې وي؟!

په دې برخه کې د رسول الله ص له ډېرو ودونو څخه هم په ناسم ډول استدلال کېږي، خلک يوازې دا ګوري چې رسول الله ص ډېر ودونو کړي وو، دا نه ګوري چې رسول الله ص څه وخت ډېر ودونه کړي وو؟ پر دې چا فکر نه دی کړی چې رسول الله ص د خپل ژوند اوله مرحله کې له يوې کونډې سره واده وکړ، هغه هم تر ده په عمر مشره وه. تر هغو چې رسول الله ص له مکې هجرت

کاوه، همدا يوه ميرمن يې وه، د ژوند يو بل پړاو چې په مدينه کې تر هجرت وروسته پيل شو، رسول الله ص د ټولنې حالاتو دې ته اړ کړ چې خپل روش بدل کړي، قران کريم هم په دې وخت اسلامي ټولنې ته د ګنو ودونو اجازه وکړه، دا کومه مرحله وه؟ دا هغه مرحله وه چې مسلمانانو له ګنو دښمنانو سره په جنګ اخته شول، په ټولنه کې ښځې د مېړه، پلار، ورور او نورو خپلوانو له سيورې بې برخې کېدې، د يوې کورنۍ که به يو سرپرست موجود و، د هغه په له منځه تلو، يوه دوې، درې يا هم ګنې ښځې له سرپرست پرته د مسلمانانو ټولنې ته ور له غاړې کېدې، په دې وخت کې به يا نژدې خپلوانو هغوی ته لاس ور کاوه، يا به هغوی په فقر او بدکاريو خپل ځان ته يوه ګوله موندله يا به اسلامي ټولنې په ګډه د هغوی ستونزو ته د حل لار موندله، د رسول الله ص په وجود کې سوال نه پيدا کېده چې يوازې دوه لومړي اپشنه دې فعاله شي، بلکې ټولنې په ګډه دې ستونزو ته اوښه ور کوله، رسول الله ص له ټولنې ځان بر نه ګاڼه، هغه په هره مرحله کې له خپلو کسانو سره اوږه په اوږه ولاړ و، نه يې په جنګ کې ځان شاته کړ، نه په راحت کې مخته، نه يې له واکه د خپلو شخصي ګټو لپاره استفاده وکړه او نه يې د مسلمانانو په مال ځان او کورنۍ ته ماڼۍ جوړې کړې، هغه خپل ټول وخت د مسلمانانو د يوې پياوړې، ډاډمنې، سوکاله، خپل واکې او الهي احکامو ته د پابندې ټولنې پر جوړولو صرف کړ، په دې لړ کې رسول الله ص هم ګڼ ودونه کړي دي او اصحابو رضي الله عنهم ته يې هم اجازه ور کړې ده. که د رسول الله ص د بيبيانو ژوند ليک وګورئ نو رسول الله ص له عائشې رض پرته ټولې کونډې ښځې کړې دي، هره يوه يې تر هغې وروسته کړې ده چې په ټولنه کې بې سرپرسته پاتې شوې ده.

زه به يې دلته څو مثالونه ذکر کړم: د عمر فاروق رض لور تر هغه وروسته د رسول الله ص په نکاح شوه چې هغه کونډه شوه، يوه نژدې ملګري ته په دغه ډول دروند غم کې د مرستې لاس ور کول، د باهمته خلکو کار وي، رسول الله ص په دې غم کې خپل نژدې يار او ملګری يوازې پرېنښود، بلکې د هغه تر شکايت وروسته يې سمدستي ورته وويل چې ستا له لور سره زه نکاح کوم، په دې سره د هغه بې اطميناني ختمه شوه او د رسول الله ص په دې وړانديز ډېر خوښ شو.

د ابو سفیان رض له لور ام حبیبې رض سره یې تر هغه وروسته نکاح وکړه چې هغه په حبشه کې یوازې پاته شوه، د تاریخي روایاتو د اختلاف له مخې یا یې مېړه له دینه واوښت یا هم مړ شو، خو په هر حال هغې ته ډېره لویه صدمه ورسېده، هغه له مېړه جلا شوه، کورنۍ یې په مکه کې وه او له رسول الله ص سره یې سخت اختلاف در لود، ابو سفیان د هغو جنګونو مشري کوله چې د مسلمانانو د له منځه وړلو لپاره یې کول، نو په دې حال کې به د یوې ښځې څه حال وي چې په پردي وطن کې له خپل ملګري جلا شي او له هر ډول مرسته کوونکي محرومه شي؟ رسول الله ص هغې ته د مرستې لاس ور کړ، هغه یې تر خپله ژونده د احسان پوروړې وه.

که د ټولو حالات یې بیان کړم، نو خبره به اوږده شي، په دې برخه کې زما په نظر دا خبره بس ده چې رسول الله ص یوازې په مدني ژوند کې ګڼ ودونه کړي او هغه یې هم ټول له کونډو سره کړي دي، دا خپله په زباته رسوي چې ګڼ ودونه په اسلام کې د جنسي خواهشاتو د سړولو لپاره نه دي شوي او نه ورته اجازه ور کول شوې ده، بلکې د اړتیا او مجبوریت له مخې دې کار ته اجازه شوې او که هماغه ډول حالات پیدا شي چې رسول الله ص په مدني ژوند کې ورسره مخ شو، بیا هم خلک له دې اپشن څخه استفاده کولای شي، یا هم د یوه فرد لپاره سختې کورنۍ اړتیاوې، لکه: د یو چا اولاد نه کېږي، یا هم مېرمن یې ناجوړه وي او یا هم دې ته ورته اړتیاوې.

یوه نکته چې په دې برخه کې ډېره مهم ده او خلک ور څخه غافل دي، هغه وېره، شک او عدم اطمینان دی چې زموږ یوه ښځه به یې د خپل مېړه په اړه هر وخت لري، زموږ ښځې به هر وخت دا فکر کوي چې نن به د یوې بنې اواز را باندې وشي او سبا به راباندې وشي. نه یوازې دا چې ښځې به له دې حالت څخه ډار لري، بلکې نران یې په دې سره ګواښي هم. تاسو فکر وکړئ چې په دغه صورت کې به د یوې ښځې په کور کې څه حالت وي؟ د دغه ډول یوه کور مېرمن به څومره ډاډمنه، له شکونو خلاصه، په ارامه فضا کې ژوند کوي؟ دا د دې نتیجه ده چې موږ خلکو ته بې قیده و شرطه له اسلامه د ګڼو ودونو جوازلیکونه د خدای او رسول په نوم ور کړي دي او زموږ ټولنه یې نن دې ځای ته را رسولې ده!!!

اوس به یو څه د هغه ایت تفسیر ته هم تم شو چې په دې برخه کې ور څخه د ګڼو ودونو استدلال کېږي:

{ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا} [النساء: 3].

ژباړه: او که تاسو ډار در لود چې د بې سرپرسته مېرمنو په حق کې به بې انصافي وکړئ، نو چې ستاسو خوښې وي، له هغوی څخه دوې، درې او څلور په نکاح کړئ، که له تاسو سره د نه عدالت ډار وي، بیا یوه په نکاح کړئ او یا هم په ټولنه کې له شته مینځې سره نکاح وکړئ، دغه صورت ډېر دې ته نږدې دی چې تاسو ظلم ونه کړئ.

تاسو وګورئ چې قران کریم په دې ایت کې په څه ډول ګڼو ودونو ته اجازه ور کړې ده؟ په ټولنه کې بې سرپرسته مېرمنې پاته دي، که ټولنه کې باصلاحیته خلک یا هم واکمن کسان پر دې ډاربدل چې له هغوی سره په همدې حالت کې انصاف نه کېږي، یا د انصاف معنا دا چې خلک کم دي، ښځې په ټولنه کې زیاتې دي، اوس که یو سړی یوه ښځه وکړي، نو ښځې په ټولنه کې اضافه دي، هرې ښځې ته داسې مېړه نه پیدا کېږي چې بله ښځه دې ونه لري، که دا بې سرپرسته ښځې په ټولنه کې همداسې پاتېږي، دا هم انصاف نه دی او که مېړه ورته موندل کېږي، نو داسې کسان نه موندل کېږي چې بله ښځه نه لري، اوس به له دې ښځو سره څه کېږي؟ دا په ټولنه کې یو استثنایي حالت وي، دا عمومي قاعده نه ده چې هر څوک دوه درې یا څلور ودونه کولای شي، زموږ خلکو دا یو عمومي حالت بللی دی، د ایت پای او سر ته یې پام نه دی کړی، یوازې یې هغه برخه عملي کړې ده، چې دوی یې د ځان په ګټه ګڼي.

تر دې وروسته په ایت کې راغلي دي چې ستاسو خوښې ښځې، له دې ښکاري چې د نکاح وخت تر بلوغ وروسته دی، ځکه ماشوم په دې برخه کې په هیڅ نه پوهېږي، خوښې او ناخوښې یې نه چلېږي، واړه ماشوم ته کوژده کول غیر اسلامي طریقه ده او وړه نجلۍ ور کول بیا هم له اسلام او عقلانیت څخه وتلې چاره ده. اسلام ښځو ته هم د خپل مېړه د انتخاب حق ور کړی دی(البقره: ۲۳۴) او نرانو ته هم په هغه لوړ ایت کې اجازه ده، زموږ ټولنې وړو ماشومانو ته د نکاح کولو جواز له کوم ځای څخه تر لاسه کړی دی؟!

په همدې ایت کې ور پسې وايي چې که عدالت مو نه شواى کولاى، د ګڼو ښځو حقونه مو نه شواى ور کولاى، له خوارۀ کوره جهنم جوړېدى، نو بیا یوه ښځه درته کافي ده، همدا د کورني ژوند په اړه د اسلام اصل هم دى، که له ازادي ښځې سره د نکاح وس نه وي، یا هم بل هر عامل يې د مخنيوي سبب شي، کولای شئ چې له مينځې سره نکاح وکړئ.

لکه په لومړي سر کې چې د بې انصافۍ له امله د جواز یو صورت وړاندیز شوی دی، همدغه ډول يې په اخير کې له بې عدالتۍ بېرته عمومي حالت ته پنا وړې ده، په عامو حالاتو کې یوه ښځه ده، د اسلام عمومي اجازه ده، که د نرانو د سر لو ګډ شو، ښځې په ټولنه کې پاته شوې، د ټولنې باصلاحیته وګړو يې بله لار ونه ليده، نو کولای شي چې د خپلې خوښې له ښځو سره نرانو ودونه وکړي، هغه ښځې چې د خلکو خوښې وي، ځکه نو به د کور چاپېريال نه خرابېږي، داسې هم نه کېږي چې د سړي خوښه وي، خو د ښځې بیا نه وي خوښه، قران کريم په میراث او زور د ښځو له وړلو منعه کړې ده(النساء: ۱۹)، کور یوه کوچنۍ ټولنه ده، یا هم که ووایم کور د ټولنې بنیادونه دي، که د هرې ټولنې بنیادونه محکم او پیاوړي وي، هغه ټولنه به هم مضبوطه وي، که دغه بنیاد يې خراب او فاسد شو، ټولنه خپله ورسره شړېږي، له دې امله د مېړه او ښځې په انتخاب کې د اسلام له مخې څوک د مداخلې حق نه لري، یوازې مشوره ور کولای شي.

اوس نو د خپلې ټولنې له خلکو پوښتنه وکړئ چې د کوم ایت پر بنسټ تاسو د ګڼو ودونو جواز تر لاسه کړی و، د هغه ایت په سر کې کوم شرایط بیان شوي دي او په اخير کې يې څه راغلي دي، تاسو چې ګڼ ودونه کوئ، یو مو هم په دې شرایطو پوره ختلی دی؟

بله خبره داده چې دا یوازې له دې حالت سره د مقابلې یو صورت دی، که د ټولنې وګړي یو بل صورت وړاندیز کړي، نو حتمي نه ده چې خلک دې له ښځو سره ودونه وکړي، په دې شرط چې نه به د ښځو حقونه ضایع کېږي او نه به په ټولنه کې د اخلاقي فساد سبب کېږي، ځکه په اسلام کې د عفت ساتل یو مستقل ارزښت دی، چې په دې سره د انسان نفس پاکېږي، ترقي کوي او انسان د بدۍ پر ځای نیکۍ ته هڅوي، نو د عفت ساتنه په اسلام کې خورا لوی ارزښت لري، که د ټولنې د اخلاقي فساد سبب نه کېږي، لازمي نه ده چې بې سرپرسته ښځې دې حتمي ودونه وکړي، دا د هغوی خوښې ته پاته معامله ده، البته د ټولنې د ګټې په خاطر ممکن داسې صورت پیښ شي چې له ښځو سره په دې معامله کې د ټولنې باصلاحیته وګړي مشوره وکړي، ممکن هغوی ورته یو وړاندیز وکړي چې د هغوی په اند د ټولنې په ګټه دی، حتمي نه ده چې هغه دې د ګڼو ودونو وي، مګر هغه چوکاټ به په نظر کې نیول کېږي چې نه به له ښځو سره ظلم کېږي او نه به د ټولنې د اخلاقي فساد سبب کېږي، که هر صورت د هغوی په ګټه وي، ورته وړاندیز دې کړي، د اسلام له اړخه ستونزه نه لري.



# مشکل خراسان طلبان چیست؟



داکتر نور احمدخالدی

اول خراسان طلبی سرپوشی است برای ایران طلبی!
از پدرام، لعلزاد، آرینفر ،،، تا مجیب رحیمی رییس دفتر عبدالله عبدالله همه خواهان ایجاد ایران بزرگ هستند! خراسان یک بهانه برای اغوا او فریب جوانان تاجیک تبار افغان است۱
دوم خراسان منطقه جغرافیایی و اداری است مانند یک ولایت نه قلمرو یک دولت.
خراسان یک منطقه وسیع جغرافیایی است که نواحی مرو (ترکمنستان)، نیشاپور (ایران) و هرات (افغانستان) را در بر میگیرد. ساسانیها بخشهای غرب سرزمینهای آریانای باستان را در جمله ولایت خراسان خود قلمداد کردند. و خراسان ساسانی شامل مرو، نیشاپور، هرات تا نزدیکی های بلخ میگردید.
با فتح این مناطق توسط اعراب مسلمان در سالهای بعد از 651 میلادی و استقرار محل حکومت خود در مرو و نیشاپور ولایت خراسان را مرکز قلمروهای فتوحات شرقی خود قرار دادند.
در زمان خلافت عباسی خراسان شامل مناطق شمال غرب افغانستان نیز میگردید. به نقل از زین الاخبار گردیزی که در عهد مسعود غزنوی نوشته شده، اسم ولایات و حکام آنها (پسران هارون الرشید) در عهد هارون الرشید عبارت بودند از:
۱ –محمد الامین: عراق (ایران و عراق امروزی) یمن و حجاز و برخی از شام
۲ -عبدالله مأمون: خراسان و ماوراالنهر و هند و سند، و نیمروز و کابل و زابلستان،
۳ -مؤتمن: برخی شام، ، مغرب، آذربایجان، روم، و زنج و حبش.
طوریکه میبینیم ولایت خراسان عربها شامل ماوراالنهر، نیمروز، کابل و زابلستان (از قندهار تا کابل) نبودند..
خراسان در عهد سامانیان، غزنویان و صفویان
در زمان سامانیان خراسان (به مرکزیت نیشاپور)، بلخ و غزنی حاکم نشینهای مستقل بودند. در وقت حکومت سبگتگین در غزنی نوح سامانی مقام اورا به حیث حاکم غزنی تآیید کرد و پسر بزرگ او محمود را حاکم خراسان در نیشاپور مقرر نمود. غزنویان همچنان به تقسیمات اداری عهد سامانی ادامه داده حکومت خراسان را حوزهٔ شمال غرب افغانستان، مرو و نیشاپور قبول داشتند.
در بابر نامه میخوانیم که از قندهار سرک بطرف خراسان از دشت های هموار میگذرد (1535م) . همچنان وقتی قافلهٔ حامل جورج فورستر انگلِسی بعد از فراه مسیر خودرا از غرب بطرف شمال تغییر میدهد او مینوسد که حالا ما بطرف خراسان حرکت میکنیم (1783م). وقتی از کابل به هرات میرود مینویَسد که به خراسان رفته است.
اصطلاح خراسان بزرگ و ایران بزرگ چگونه ایجاد شد
اصطلاح خراسان بزرگ ساخته و پرداختهٔ پان ایرانیستهای معاصر بوده سابقهٔ تاریخی ندارد. پان ایرانیستها از نامهای، آریانا، آسیای میانه یا یا آسیای مرکزی و افغانستان خرسند نیستند و میکوشند با اشاره به اصطلاح موهوم خراسان بزرگ شامل سغدیانا یا ماورالنهر باستانی، بکتریا و آریانای عصر عتیق، به نحوی ادعای مالکیت این مناطق را به ایران بزرگ که خود یک اصطلاح ساخته شده ناسیونالیستی پان ایرانیستها در مقابل آریانای باستان میناشد قایم نمایند.
آیا هرگز کشور و دولت مستقل خراسان موجود بوده است؟
طوریکه دیدیم در زمان حاکمیت مستقیم اعراب سرزمینهای امروزی افغانستان برخی از مناطق خراسان، ماوراالنهر، هند و سند، و نیمروز و کابل و زابلستان بودند.

همچنان در زمان سامانیان خراسان، غزنی و بلخ هرکدام حاکم نشین جداگانه محسوب میشدند و این مناطق از بخارا که مرکز حکومت سامانی بود اداره میگردید.

سبکتگین اولین فرمانروایی است که تمام سرزمین امروزی افغانستان در زیر نفوذ و ادارهٔ او از غزنی اداره میگردید باآنکه در اسم از مربوطات حکومت سامانی بخارا محسوب میشد. اما به قول فیرر (Ferrier ) در کتاب "تاریخ افغانستان" چاپ سال 1858م لندن، افغانها از حکومت او نظر به ریشهٔ تاتار بودن او مخالف بودند و این مخالفت خودرا با قیامهای متعدد در زمان بازماندگان او نشان دادند. اما طوریکه دیدیم در زمان غزنویان خراسان، بلخ و غزنی هرکدام حاکم نشینهای جداگانه بودند و تمام قلمرو آنها بنام خراسان یاد نمیشد.

شاهان صفوی هم به عنوان شاهان ایران (فارس) حکومت میکردند نه شاهان خراسان. قبل از صفویها نیز شابک خان ازبک و تیموریان از سمرقند و هرات حکومت کردند و اسم واحدی برای قلمروهای وسیع خود نداشتند که از ماواالنهر تا دریای سند و تا فارس و ترکیه عثمانی را در بر میگرفت. خراسان شامل مناطق مرو، هرات، بادغیس و نیشاپوریکی از ولایات متبوعهٔ تیموریان را تشکیل میداد همانند سلسله های مغولی، خوارزمی، سلجوقی، غزنوی، سامانی، صفاری و طاهری ماقبل آنها.

طوریکه میبینیم در تاریخ کدام کشور مستقل بنام خراسان و کدام شاه مستقل خراسان هرگز وجود نداشته است. خراسان یک منطقه وسیع جغرافیایی است که نواحی مرو (ترکمنستان)، نیشاپور (ایران) و هرات (افغانستان) را در بر میگیرد. جالب این است که در تشکیلات ملکی صفویها هیچ ولایتی بنام خراسان موجود نبود. در هیچ کتابی مربوط به عصر صفوی به قندهار و هرات بنام خراسان اشاره نشده است.

نادرشاه افشار باآنکه از خراسان برخواسته بود ما بنام شاه فارس حکومت کرد نه خراسان بلکه خراسان یک ولایت مربوطات او بود که مرکزش نیشاپور بود.

احمد شاه ابدالی همانطور که شاه خراسان بود شاه کابل و قندهار هم بود. در زمان احمدشاه ابدالی خراسان یکی از ولایات شامل قلمروهای او بود که شاهرخ نواسه نادر افشار از طرف احمدشاه ابدالی به حیث حاکم خراسان مقرر شده بود. حدود آن شامل ولایات خراسان موجوده ایران بود و هرات را شامل نمیگردید.

هرات ولایت دیگر قلمروهای دولت درانی بود که درویش علی خان هزاره از طرف احمدشاه ابدالی به حیث اولین بگلربیگی (والی) مقرر شده بود.

بسیاریها حوزهٔ جغرافیایی خراسان را با حوزهٔ تمدن فرهنگ خراسانی اشتباه میکنند. حوزه تمدن فرهنگ خراسانی به مراتب وسیعتر بوده از ماوراالنهر تا دهلی، سند و عراق را تحت تأثیر قرار داده است. این امر در اولین مرحله ناشی از پیدایش و تکامل زبان دری و ادبیات وابسته به آن (سبک خراسانی) در خراسان و گسترش آن به غرب به ایران امروزی و تکامل آن به عنوان زبان فارسی و همچنان گسترش بعدی این ادبیات به آسیای صغیر (ترکیه عثمانی) و نیمقارهٔ هند میباشد.

حدود خراسان در زمان صفویه در نقشهٔ آتی که در زمان حاکمیت آنها به فرمایش آنها توسط اروپاییان ترتیب شده نشان داده شده همان مناطق شمال غرب افغانستان و شمال-شرق ایران (میان 55 درجه و 65 درجه طول البلد و 40درجه و 30 درجه عرض البلد شمالی) را احتوا مینماید. این نقشه با ترجمه ترکی در آرشیف دولت عثمانی نیز موجود بوده که در ذیل موجود است.

به این نقشه ها نگاه کنید:




عنوان نقشه‌ی ایران عصر صفوی موجود در آرشیو عثمانی



# د افغانستان په معاصر تاریخ کې د شاه امان الله موقف او ځای

## (د خپلواکۍ د ۱۰۴ کالیزې په مناسبت)

لیکوال: کاندید اعظم سیستاني، ژباړه: هیله تبسم



شاه امان د افغانستان یواځینی پادشاه و چې د افغانستان خپلواکي یې د انګلیس استعمار له منګولو لاسته راوړه(۱۹۱۹).

شاه امان الله افغانستان یواځینی رهبر و چې د ښځو او سړیو د حقوق برابروالي او د هېواد د نورو وګړو د حقوقو برابروالي لپاره عملاً لاس په کار شو، او د دې برنامو د عملي کولو پر سر یې خپل تحت او تاج له لاسه ورکړل.

شاه امان الله د افغانستان یواځیني شاه و چې د لومړي ځل لپاره یې د خپل هېواد د خلکو د حقوقو لپاره اساسي قانون په عالي مبانیو تصویب او وضع کړ، او د هغه د تطبیق او عملي کولو په لار کې یې عملاً ګام اوچت کړ.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې په افغانستان کې یې د خپلې دورې په جریان کې، هېڅ آزادي غوښتونکی او خپل منتقدین زندان ته ونه سپارل او هېڅ کوم آزادي غوښتونکی یې له منځه وې نه وړ.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې د معارف په تعمیم یې د هېواد په سراسر کې لاس پورې کړ او بیا هم لومړنی پادشاه و چې خپله یې لویانو ته تدریس کاوه او د هغوی لپاره یې ځانګړې تګلاره د سواد زده کړې لپاره د ۱۰ ورځو په مدت کې وضع کړه.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې د خپل لس کلنې دورې په جریان کې یې له هېڅ کوم بهرني هېواد د پیسو مرسته ونه غوښته او خپلواک حکومت یې وکړ.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې په لویه جرګه ۱۹۲۸ پغمان کې؛ د افغان ښځو آزادي د چادري/بورقې( یې د تحقیر او نابرابرۍ نښه) اعلان کړه او پر خپلو اصلاحي ګامونو کې یې یو بل انقلابي ګام اوچت کړ او په هماغه لویه جرګه کې ملکه ثریا او د شاه خور زینب جان په لوڅ مخ جرګې ته راغلې.

شاه امان الله د افغانستان یواځینی شاه و چې د لومړي ځل لپاره یې د جمعې لمونځونه، محراب او ممبر د ملا له اختیاره واخیستل او خطبه او لمونځ یې په خپله قرئت کول، مخکې له هغه او وروسته له هغه هېڅ کوم پادشاه او د افغانستان رهبرانو له ملا او خطیبانو څخه د محراب او منبر د اخیستو جرئت نه درلود.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې عدالت یې له سلطنتي کورنۍ پیل کړ. معاش، نسبي امتیازات او پخه ډوډۍ یې له ارګ په هغوی منع کړه.

شاه امان الله لومړنی شاه و چې د پیرانو، روحانیونو، خوانینو او متنفذو ملکانو باندې یې بیت المال بند کړ او کار کول یې د دې امتیازاتو د اخیستو شرط ورته کېښود.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه و چې بغیر له ساتونکو به د ملت په منځ کې ګرځېدو او له هغوی سره به ملحق کېدو، او ځان یې د خلکو له غم او درد خبراوه او حتی الوسع یې د دې درد او غم د حلولو کوښښ کاوه.

شاه امان الله لومړنی شاه و چې جرمني او فرانسوي مهندسان یې راغوښتل، تر څو له چمن تر کوشک، هرات او کابل د ریل پټلۍ څېړنې ترسره کړي او په دې کار سره یې غوښتل چې هېواد د آبادۍ او پرمختګ په قطار کې ودرېږي. هغه له شاه دوشمشېرې تر دارالمان پورې ریل پټلۍ وغځوله چې خلکو او دولتي مامورینو ترې ګټه اخیسته.

شاه امان الله لومړنی شاه و چې د کابل ښار نوې طرحه یې د تاجک په تپه کې بنسټ کېښوده او د دارالمان قصر یې په عصري معیارونو او مجهز کانالیزاسیون اعمار کړ، شل نوري مډرنې

ودانۍ يې د دولتي دفترونو لپاره په بالاباغ کې د دوبي مرکز په حيث اعمار کړې.

شاه امان الله لومړنی شاه و چې د ښځلو اوبو په برخه کې يې د کابل خلکو ته جدي پاملرنه وکړه او د پغمان اوبه يې د نلونو په وسيله د کابل خلکو ته راورسولې.

شاه امان الله د افغانستان لومړنی شاه دی چې د انګليسي استعمار د سياست پر ضد يې پاڅون وکړ، او د هېواد د بشپړې سياسي خپلواکۍ په زده کړه کې بريالی شو. له شکه وتې، که هغه چېرې د انګليس پر ضد پاڅون نه وای کړی او د خپل پلار په څېر يې د هېواد په چارو کې د انګليس پيروي کولی، شايد تر ځو چې ژوندی وای، د افغانستان پادشاه به و. خو دا چې هغه د خپلواکي، د هېواد د سرلوړي او د خپلو خلکو د بشپړې خپلواکي عاشق و، دا پادشاهي تاج او تحت يې د خلکو او د هېواد د خپلواکي په لار کې کېښودل.

امان الله خان لومړنی شاه دی چې د خپلې پادشاهي په لومړۍ ورځ يې مامورينو او د کابل اوسېدونکو ته د افغانستان د خپلواکۍ عام او تام خبره وکړه او خپل سطنت يې د هېواد د خپلواکۍ په لاسته راوړلو اعلان کړ او ويې ويل:

"زما عزيز ملته؛ زه د سرتېري دا جامه/لباس تر هغه له تنه نه لرې کوم، تر څو چې مې د مور هېواد لپاره د خپلواکي جامه/لباس چمتو کړی نه وي! زه به مې توره تر هغو کېنږدم تر څو چې مې د هېواد د حقوقو غاصبين په خپل ځای نه وي کېنولي! ای زما عزيز ولسه او ای زما فداکار سرتېرو! د هېواد د ژغورلو لپاره خپله وروستۍ هستي راوړئ، راشئ چې خپل له غيرت ډک سرونه د هېواد د خلاصون لپاره قرباني کړو!"

د خپلواکۍ غوښتونکي شاه، دا خبرې د سپاهيانو او کابل اوسېدونکو لخوا د الله اکبر او زندآباد امان په شعارونو بدرګه شوې. د دې ارادي پيامد او د ملت په کلک عزم او ملاتړ افغانستان د سياسي خپلواکۍ څښتن شو.

غازي امان الله خان  د هېواد خپلواکۍ لاسته راوړلو وروسته په ځينو ټولنيزو او کلتوري اصلاحاتو لاس پورې کړ چې د هغه تحقق د استعمار لپاره د منلو وړ نه و، په همدې اساس استعماري توطيې د روحانيونو په عکس العمل او د هغوی لاس لرل له استعمار سره، په کال ١٩٢٤ او ١٩٢٩ کې اماني رژيم له سقوط سره مخ کړ.

هغه ځانګړنه چې امان الله خان يې په بې بديل اتل بدل کړ، په دې نقطه کې نغښتې و چې د خپلو خلکو او هېواد عاشق و او هغه پرمختللي افکار چې د هېواد د سوکالۍ او او پرمختګ لپاره يې په ذهن کې لرل، په دې ډول زړورو اقداماتو يې لاس پورې کړ. او همدارنګه له تېرو شاهانو برعکس يې زړه په تخت او تاج پورې ونه تړو، بلکې د افغانستان د ځهرې بدلولو لپاره يې له ريسکه ډک تابو ماتولو سره مخکې لاړ چې په همدې اساس يې تخت او تاج له لاسه ورکړل، خو په هېواد کې يې داسې ارزښتونه رامنځته کړل چې راوروسته مستبدو شاهانو ونه شو چې کولی چې هغه له خلکو واخلي." (د حزب همبستګي افغانستان، ويبپاڼه)

د يو سياسي رهبر، هغه که شاه، امير يا هم رئيس جمهور وي، له دې ستر وياړ نشته چې کله د بهرنيو يا هم داخلي دسيسو او توطيو په اساس له قدرت لرې کړل شي، خو خلک د هغه د دفاع لپاره راولاړ شي او د سلطنت او قدرت لپاره يې اوه مياشتې بغير له کوم امتيازه سرونه قرباني کړي؛ خو سنګر ورنه کړي. او هغه څوک چې د ملت لخوا يې دا وياړ په برخه شو، شاه امان الله خان و.

امان الله خان له ملکې ثريا او خپلې کورنۍ سره روم ته لاړ او د يوه مهاجر په حيث يې فقيرانه ژوند وکړ. د ١٩٦٠ کلونو په لومړيو کې امان الله خان د سويس په يوه کلنيک د ينې د معالجې لپاره بستر شو، خو معالجه ګټوره تمامه نه شوه او د ٢٥ اپريل په لومړيو کې وروسته له هغه چې ٣٧ کاله يې د شهزاده او پادشاه په صفت او ٣١ کاله يې د يوه بېنوا مهاجر په حيث ژوند وکړ، سترګې يې له نړۍ پټې کړې.

د امان الله خان جنازه د يوه ګارد لخوا په احترام تر الوتکې بدرګه شوه او افغانستان ته يې را انتقال کړه. په جلال آباد کې داسې ترتيبات نيول شوي ول چې د هغه وربرونه به تابوت قبر ته وړي، خو د بعضې خلکو او شينوارو سنګوخېلو قبيلې هغوی يوه طرف ټېله کړل او اصرار يې وکړ چې تابوت به دوی قبر ته انتقالوي او همدا کار يې وکړ، د هغه وصيت يې پرځای کړ او د خپل پلار د قبر ترڅنګ يې خاورو ته وسپارو.

د دې مترقي غوښتونکي شاه ياد دې تلپاتې او روح يې ښاد!



# د وربښمو کاروان

## چلوونکې او مسئوله: شیبه ګهیځ



د وربښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پېژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مو د نیک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## پروانه شېرزاد

پروانه شېرزاد په (۱۳۷۵ل) کال د قوس په ۳۰مه د ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار کې په یوه علم پروره کورنۍ کې زېږېدلې ده. اصلي استوګنځی یې د ننګرهار شېرازدو ولسوالۍ ده؛ خو فعلاً په کابل کې ژوند کوي. د ښوونځي لومړنۍ، منځنۍ او لیسه یې په جلال اباد کې پاې ته رسولې ده. په (۲۰۱۹م) کال د خراسان پوهنتون انګلیسي ادبیاتو پوهنځي څخه په کادري نمرو فارغه شوې او اوسمهال د هېواد له تعلیمه محرومې نجونې ته په انلاین ډول کرېیز کورس کې په تدریس بوخته او د استادۍ مقدسه دنده مخته وړي.

د شعر او ادب نړۍ ته یې د ځانګړې علاقې او لیوالتیا له مخې قدم ایښی، په دې برخه کې کورنۍ مخینه نه لري. د خالق خدای طبیعت د ځانګړو ښکلاوو له شتون څخه په الهام اخیستنې یې د غزل تر عنوان لاندې کرښې وویستې، په دې برخې کې د استادانو او کورنۍ لخوا وهخول شوه. او د خپل غزل بیلګې یې په رسنۍ کې هم خپرې کړې دي. په مشاعرو کې یې د نه ګډون لامل د هغه وخت خراب امنیتي وضعیت و. او هلته د ادبي بهیر تر عنوان لاندې داسې کوم بهیر فعالیت نه درلود چې شاعرانې راټولې او وهخول شي.

پروانه شېرزاد د پښتو ادبیاتو په برخې کې هم فعالیتونه کړي، چې له انګریزي څخه یې پښتو ژبې ته خورې ورې ژباړې کړې دي، د خپلو پخوانیو شعرونو یو یوټیوب چینل لري. د خپلې علاقې او غوښتنې سره یې سم د پښتو ی ګانې انلاین تدریس او په بهرني دفترونو کې خپلو افغانو همکارانو ته د هغوی غوښتنې پر اساس په دې برخې کې پریزنټیشنونه ورکړي دي. د (۲۰۲۰م) کال تر نیمايي په غزل فورم کې تر ۳۰ زیات شعرونه لیکلي و، چې اکثریتو یې طبیعت په خپلو تشبیهاتو کې رانغاړلو. له هغه وروسته یې تصوفي یا فلسفي شاعرۍ ته مخه کړه او تر ۴۵ زیات په فرانسوي سبک لنډکي شعرونه ولیکل. آغلې پروانه وایي: (ما کله هم شعر په دې نوم نه دی لیکلی چې ما ته دې شهرت وښيي او خلک مې ولولي، زه صرف د زړه احساس لیکم او څه چې حس کړم هغه نشم پټولی.)

یو غزل یې د ملي تلویزیون په یوه مجله کې او بل غزل یې د پښتونخوا په نوم یوې مجلې کې کلونه وړاندې نشر شوی وو. همدارنګه لومړی غزل یې د استاد نقیب احمد د یاد غونډې په پار یوه مجله کې چاپ شوی و. د ښوونځي په دورې کې یې مقالې په میاشتنیو مجلو کې خپرېدې او ځینې لیکنې یې په شرق راډیو کې هم خپرې شوې دي.

د شعرونو بېلګې:

## لپو کې لونګ

ورمه د چا حُسن غنمرنګ ورمه
مل لکه د سیوري یې تر څنګ ورمه
ځان سره یې ساتمه ورغویو کې
ستا له چم نه څو لپې لونګ ورمه
نوم چې د ښکلا او قامتونو شي
مثل یې څنار په ونه دنګ ورمه
دا ماسختنی چې کړم رنګین غوندې
غوږ شه ترنم کې یو آهنګ ورمه
دومره چې اثر شیندي په زړه باندې
سترګو کې خمار لکه د بنګ ورمه
پاک به یې د مینې له اوربښت کړمه
هی! د زمانې له زړونو زنګ ورمه
ور به کړم قلم لاس کې توپک پر ځای
بس دی نور له دې مالته جنګ ورمه
نه یم آموخته د چا په دوه څېرو
زه شېرزاده تل پر مخ یو رنګ ورمه

## د زړه کتاب

دا ورځې
سحرونه یې
رنګ یې
لمر یې
او ان بوی یې
لکه زما
د روح پسرلي!!
خاموشي ده
د دنیا غږونو
د خپلو نغمو
شپېلی
پر څمکه
ایښی
هر څه ارام دي
او زه
صرف تا اورم

## ستا مینه عجیب سفر دی

چې روح مې حس کړم سفر پیل کړم
لار یې نه وینم؛ خو پوهېږم چې؛
زه د ختیځ، لویدیځ، شمال او یا جنوب
لور ته نه درومم
زه په داسې یوه کښتۍ کې نه یمه ناسته
چې منزل یې د خوبونو محل ته رسېدل نه وي
دا د مینې سفر دی
دلته سور رنګ معنا بایللې
هر څه سپین دي
بیخي لکه سپینې اوبه
لکه روح لکه د مؤمن زړه
لکه د سهار سپېده دم
او لکه زما سپینې تسبیح
دلته مې سترګې
تل پورته عرش کې نښتې وي
ستوري سپوږمۍ او وريځې
مې لاره کې ملتیا کوي
او
رحمتونه لکه باران
ټول له هسک را درومي
د مینې د ډالۍ په نوم
هو!!!
زه په داسې یو سفر یم
چې پر ځمکه لار نه لري

## سکون څه دی!

سکون څه دی مینه څه ده؟
دا چې مینه انساني ده
او سکون ارام کول دي
د تودې خونې په کونج کې
یخ لاسونه ګرمول دي
د خوښیو په محل کې
تر آبده اوسېدل دي
د مئینو له لاسونو
سره ګلونه خپلول دي
دا تفسیر خو ډېر ساده دی
د نړۍ ظاهر لیدل دي
د خپل حسن غلامۍ کې
آزموینه هېرول دي
په کرار پسې په منډو
د خوږ عمر لنډول دي
سکون دې څېزو کې نشته
سکون، رب ته ستنېدل دي
د بینا سترګو له دیده
حقیقت ته رسېدل دي
د خپل جسم اسانۍ ته
د نفس بار ښکته کول دي
په وصلت د ذوالجلال کې
یو ښکه ګرځېدل دي
د دې ختو جوړ کالبد نه
د ارواح د نور تراشل دي
مینه خپل زړه کې سفر دی
او د ښکلي روح موندل دي
مینه مینه یو تعریف دی
(فنا فی الله) کېدل دي

## ښکلي دي

له رازه ډکې کرښې پورته په تندي ښکلي دي
ستا په خلقت کې انسانان ټول فطرتي ښکلي دي
دا سمه غر دښته لمن به بیا ګلان پوښوي
څلور موسمو کې هر چاته پسرلي ښکلي دي
ستا د یادونو له کاروان سره یوځای را درومي
ما ته رحمت دي داسې څاڅکې باراني ښکلي دي
چې ستا د حسن په خیرات پسې کچکول ګرځوي
هاغه ملنګ هاغه پښې یبله لېوني ښکلي دي
که نظر ماتي لره ستا مخ ته لوګي لوګي شي
دا بوټې نه لکه سره زر دا سپېلني ښکلي دي
میلمه پالنه کې خوراک په ځای خپل زړه درکوي
د پښتنو واړه قومونه غرني ښکلي دي
پرې سندریزه کړم شېرزاد د خاموشۍ لمنه
په شعر غزل مې مجلسونه ماښامي ښکلي دي

احساس مو راپیوند کړي ترینه مـــینه را ټوکېږي
کیسه د راز ونیاز د زړه کتاب کـــې رانـه ورکـه
لمن کې یې راټوله شوګېرې او شومـــه دم کړې
د شپې توره تیاره ده په آفتـــاب کې رانه ورکه
بیګاه مې ټوله شپه ستوري ټومبلي ستا کوځۍ کې
سپوږمۍ دې د بشر زلفو طـــناب کې رانه ورکه
لاهو شم لا درک شم د چا ستــرګو کـې ډوبېږم
د روڼ نظر څپه مې لوی دریـــاب کـې رانه ورکه
لا هغسې په هوښ یم لا مې هم فکر سمبال دی
اوس نه راوړي خُمار نشه شراب کـــې رانه ورکه
خلق شوي کاینات دې خدایه ځانتــه فلسفه ده
عاجزه شم پوښتنه شي ځواب کـــې رانه ورکه
چې ونځوي زړونه فکر و خیال ځان سره یوسـي
هم هغه پخوانۍ نغمه رباب کـــې رانه ورکه
راونغاړه شېرزاد د ملکــوت د راز پردو کـــې
تشبېه د ستا د حسن په خطاب کــې رانه ورکه

# مرګونه او ویرونه

لنډه کیسه

**عبدالعزیز نایبي** - ستاکلهم، سویډن

همغې کوټې کې به مو چې سطرنج، کرمبول او قطعې کولې؛ د فاروق تابوت ایښی و. زموږ د ماشومو خنداوو ځای ویر او انګولا پر سر اخیستې و. بده ورځ وه، د فاروق د مور ځګرسوزه فریادونه او ژړاوې مې هېڅ نه هېرېږي.

جنازه ښځو ته د لیدو لپاره ایښودل شوې وه، زه لا تنکی ځوان وم، د فاروق سر ته مې په ډک زړه او نمجنو سترګو قران لوسته. هغه د توپ مرمۍ په باروتو سوی و، هېڅا یې څېره ونه لیده، ډاکترانو سر تر پښو په پونبو او بنداژونو کې تاو کړی و. کله چې جنازه هدیرې ته د وړلو لپاره جګېده، ټولو په یو وار چیغې کړلې، ته وا هغه کور کې قیامت جوړ شو، مور د ځوی په جنازې پسې ځنبېده، نورو ښځینو کلکه نیولې وه، خو دا نه تمېده. زه هم د جنازې کټ پسې روان شوم. هدیره زموږ له کورونو څخه دومره لرې نه وه، د فاروق جنازه مو پلې د هغه تر وروستي منزله پورې ورسوله. قاضي خان زموږ د سیمې ډېر خیرخواه او متقي مشر و، هر چا یې درناوی کاوه، هغه د خیر په کارونو کې تر ټولو پیش قدمه و. د فاروق د جنازې او خښېدو په چارو کې یې ډېر زیار وګاله، موږ ته یې دلاسائي راکوله. تر لمونځ جنازې وروسته، د فاروق مړی په کبر کې کېښودل شو، قاضي خان کاکا ماته هم انجه (بېلچه) په لاس کې راکړه او راته ویې ویل:

- نیسه بچیه، لږ خاوره ته هم پرېږ واچوه، ثواب لري!

انجه مې ترې واخیسته او بې له دې چې څه ووایم، په نه زړه مې پر جنازې خاوره واړوله. ډېر کم وخت کې یې کبر جوړ شو، د ملا صاحب تر دُعا وروسته هدیرې ته راغلي خلک بېرته خپلو کورونو ته ستانه شول.

خوږ ملګری مې بایللی و. ټوله شپه مې فاروق سترګو کې ګرځېده. هغه وختونه رایادېدل چې ګډ به ښونځي ته تللو، لوبې به مو کولې. ها وختونه چې خفه به شو، نو بېرته به ژر په خلا شوو - دا ټولې خاطرې مې یوه، یوه ذهن ته راتلې او ورسره به مې له سترګو بېدریغه اوښکې وبهېدې.

کابل کې د تنظیمي ټوپکیانو راج و، کورنۍ جنګ و، نیستي وه. د فاروق کونډې مور به دې ورځ هغه له ځان سره خپل کارځي ته بېولې و (د یوې امنیتي اداري پخلنځای)، هغې چې څنګه په کار پیل کړی دی، فاروق د ودانۍ دباندې انګړ کې د توپ مرمۍ سره په لوبو بوخت شوی دی، مرمۍ ناڅاپه چاودلې وه او فاروق یې سوی سکور ګرځولی و.

د فاروق بېلتون زموږ ټولو ګاونډیانو زړونه داغلي وو، خو د هغه د کشري ورور فواد، وضیعت تر موږ هم بدتر و. مشرانو به موږ هلکانو ته سپارښتنه کوله چې فواد خپګان ته پرې نه ږدو، د پېښ شوي مصیبت د زغملو لپاره اوږه ورکړو. موږ خپل وس کاوه، خو هغه د خندا ډکې خولې فواد نور نه و پاتې - غلی او په زړه نتلی.

د فواد دوه نور ورونه او یوه خور څو کاله وړاندې شوروي ته تللي وو. هغه به کله، کله یادول، خو زیات احوال یې ترې نه درلود. یوه ورځ چې په لوبو بوخت و، زموږ د بلاک د دروازې مخې ته یو ناشنا موټر ودرېد. ټولو ورمنډې کړې، څو کسه خپلو کې سره غږېدل او د فواد دوی د کور پوښتنه یې کوله. کوم چا د کور پته ورکړه او په همدې کې یو سړی پاس بلاک ته وخوت، لږ وخت نه و تېر شوی چې بېرته راستون شو او ورپسې یو ناڅاپه د بلاک د دروازې خولې کې چیغې شوې. له ناشنا موټر څخه یې دا ځل د فواد د بل ورور، رضا جنازه راښکته کړه. رضا، بدماشانو په روسیه کې د چاقوانو په ګوزارونو وژلی و. تابوت په اهن چادر کې پوښل شوی و، څو تنو یې سر پرې خلاص کړ او یو وار بیا د فواد دوی په کور کې د غم تږغ اوار شو. د فواد د مور له زړه نه یو الله خبر و چې څه به پرې تېرېدل. د رضا د تکفین او تدفین مراسم ترسره شول. ګاونډیانو د فواد مصیبت ځپلې کورنۍ ته ډاډګېرنې ورکولې او ځانونه یې په غم کې ورسره شریک ګڼل، خو متل دی چې وایي: «مځکه هغه سوځي چې اور پرې بلیږي!»

له جنازې سره د هغه بل ورور او خور هم کابل ته راغلي وو، دوي بېرته روسیې ته نه تلل، هلته هم د افغانستان په څېر سیاسي او اقتصادي وضیعت مخ په ځوړ روان و. د

فواد وررور حسن نومېده، راتګ يې په يوه سبب د هغه لپاره ښه شو، د فاروق ځای يې يو څه ډکاوه، د مور او خويندو زړونه هم پرې راټولېدل.

حسن په روسيه کې داسې فوټبال زده کړی و چې ساری يې ان د افغانستان په ملي لوبډلې کې کم و. تر موږ مشرانو به هم دا خبره کوله، څو ځل مو هڅولی و چې د المپيک ملي کميټې ته ورشي ګونډي لوبډله کې يې ونيسي، خو حسن عجيب طبيعت درلود؛ نه يې منله.

موږ به د ماښام او مازديګر له منځه بلاک سره وړې ميداني کې فوټبال کاوه. حسن به چې کله لوبې ته راګډ شو، بيا به نو نر هغه څوک و چې توپ يې له پښو راونيسي، چې ښه به يې ستړي کړو، هله به يې بيا توپ راخوشې کړ. ورو، ورو مو له هغه څخه د فوټبال ځينې چلونه زده کړل، لکه: دربېل څنګه کېږي؟ له هوا څخه د مځکې په لور روان توپ څنګه په سينه يا پښې باندې ايساريږي؟ په تندي باندې څه ډول توپ ووهل شي؟ کارنر، اف سايټ او پينالټي څه دي؟ لوبه کې کوم څېزونه فول او کوم مجاز دي؟ دي ته ورته د فوټبال ځينې نور اصول او قوانين مو هم له حسن څخه زده کړل.

هلکانو کې د لوبې جذبه زياته شوه. په همدې کې مو د فوټبال لوبډله جوړه کړله. د لوبډلې د لوبغاړو کالي يو ډول نه وو. چا به تور برزو کش کړی و چا به شين، چا سپين او چا نيلي - ځينو دا هم نه درلودل؛ کميسونه به يې له تنو وويستل، زيرپيراهنياني به يې په بډو ووهلې او په شور او ځوړ به د لوبې ميدان ته ور ګډ شول. ياديږي مې چې د ګاونډي بلاک له لوبډلې څخه مو څو وارې سيالۍ ګټلې وې.

ژوند د تنظيمي ټوپکيانو د وحشت او خپلمنځيو جګړو تر سيورې لاندې روان و. خلکو چاره نه درلوده؛ ځان يې ورسره عادت کړی و. کله، کله به چې جګړو زور واخيست نو له کورونو څخه دباندې وتل به سخت شول. همداسې يوه بده ورځ وه چې يو توغندی مو د کور د بام له سره په هيبتناکه شغه هارې تېر شو، ما چې په سالون کې بالښت ته ډډه لګولې وه، د توغندي د غږ له اوريدو سره سم مې بې ارادې د کوټې غولي کې پروت وکړ. لږ شيبه وروسته مې چې له اورسۍ دباندې وکتل، د خاورو او باروتو د لوګيو غوږسکو پاس اسمان پوښلی و. توغندی زموږ د سيمې پخوانۍ کوپوني مغازې ته څېرمه لګېدلی و. تيت پرک اوازونه و، ترهېدلې مرغۍ له يوه ځای څخه بل ځای ته تېزې، تېزې الوتې، څو لارويانو پر لوی سړک باندې وارخطاوې منډې وهلې، زموږ په کور کې هم شور او ځوږ جوړ شو، ټول وېرېدلي و، اهونه او افسوسونه وو. همدا چې د باروتو لوګي له هوا ورک شول، خپه - خپه بېرته خپلو کوټو ته ستانه شوو. اوس مې هېر دي چې څومره وخت به تېر شوی و چې نابره د بلاک لاندې د خلکو د شورماشور غږونه اوچت شول. يو غږ پکې ډېر رسا راته:

- خانه ای کدام است؟ از خير سرتان اګه بريش احوال بتين!

اندېښنه مې شوه، له کوټې څخه په بېړه برنډې ته ووتم. له پنځم پوړ څخه مې لاندې وکتل. له يوې باروړونکې کراچۍ څخه خلک چارپېر تاو شوي وو، کراچۍ ته چې ځېر شوم، يوناڅاپه مې له خولې چيغه ووته، اه خدايه دا مې څه ليدل؟ د تنکي فواد مړی! د څو دقيقو لپاره مې حواس پر ځای نه وو، ما شوک ليدلی و.

له مغازې سره لګېدلي توغندي کې فواد شهيد شوی و. کراچي وان د پېښې له سيمې څخه د فواد مړي کراچۍ کې راچګ کړی و او په پوښتنې، پوښتنې يې تر دې ځايه را رسولی و چې کورنۍ ته يې وسپاري.

د فواد ويرجنې مور بيا سر او تندی واهه، داسې سوې چيغې يې وې چې عرش يې لړزاوه. د درېو زامنو پرلپسې مرګونو داسې ناکراره کړې وه، ته وا د مځکې تل را اړوي. هاخوا بيا حسن زبون وهلی ولاړ و او د ورور مړي ته يې ترې، ترې کتل. کله به ور ټيټ شو او پر مخ به يې ښکل کړ او کله به يې ورسره خبرې کولې. عجيبه وه، «فواد» د «زړه» په مانا دی؛ د توغندي يوې وړې چرې يې زړه سورې کړی و، کنه نور يې بدن هېڅ ټپ نه و خوړلی. توغندی د تنظيمي ټوپکيانو کومې ډلې راتوغولی و. د فواد په څېر د لسګونو بې ګناه انسانانو وينې هر ورځ د قدرت په نشه مستو ارازلو، توېولې.

دا په لنډه موده کې پرلپسې څلورم کس و چې په يوې کورنۍ کې په حق رسېدل. د کونډې د درېو زامنو له مرګ لږ وړاندې د هغې مېړه وفات شوی و، مېړه يې د ډېر عمر سړی و، خلکو به «بابای چهارده ساله» باله. ځينو به ويل: بابا کفن خوړلی، کبر يې بايد لوڅ شي او کفن يې له خولې وويستل شي، کنه بل مصيبت به پېښ شي. د ټولو اندېښنه حسن ته وه، چې پر هغه کومه ټکه پرې نه وځي.

حسن چې خلک به يې د فوتبال په ننداري نه مرېدل، کلکې رواني ضربې وخوړې. ږېرې او نوکان يې اوږده پرېښودل، حمام يې نه کاوه، خيرن کالي به يې په مياشتو - مياشتو نه بدلول، يوه جوړه زړې چپلقې او شکېدلي بوټونه به يې سروکال په پښو وې. له کوره به چې د باندې ووت، هېچا سره يې خبرې نه کولې، زموږ د سيمې (تهيه مسکن) له بلاکونو څخه به يې چاپېره دورې وهلې. سګرټ يې پخوا هم څکول، خو اوس نه يواځې هغه بلکې کونډې مور يې هم ورته ښه بينا کړې وه. حسن به چې پر لارې روان و اکثره به له ځان سره غږېده، هېڅ په هېڅه به يې کټ، کټ خندل. پر هغه غرونه، غرونه غمونو امبار شوي و؛ خلکو اوس لېونی باله.     پای

---

# د کيف افغانه ښاپېرۍ

## عارف زيار

د کيف افغانه ښاپېرۍ، نوم يې نوی دی، د نوم په لوستلو يې ادا تلوسه نهايت ډېرېږي، چې دې کتاب کې به څه وي؛ ما يې د لومړي ځل په ليدو ډول ډول فکرونه وکړل. حيران وم چې ادا څنګه جمله ده، ځکه چې کيف له اف غانستان نه په زرګونو کيلو متره لرې واقع دی، بيا نو افغانه ښاپېرۍ څنګه د اوکراين په زړه، کيف کې موندل کيږي؟

له دې مې فکر ډېر لرې و، چې کلونو جګړو افغانان داسې سره پاشلي، چې د نړۍ هېڅ کونج به له دې معصوم ولس نه خالي نه وي. افغاني غيرتمندې نجونې او ښځې به په پرديو هېوادونو کې د يوې مرۍ ډوډۍ پيدا کولو په موخه کومو کومو کارونو ته لاس نه اچوي، عجيبه نه ده.

تر مياشتو مياشتو ډېره موده له مطالعې لرې وم، نن مازديګر ناڅاپه سروش کتاب پلورنځي باندې برابر شوم، نابېره مې د محمد طارق بزګر په دې ليکل شوي اثر سترګې ولګېدې.

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپريږي ځوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړيواله شبکه‌زموږ ويبپاڼه

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تادياتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ويپس شمېره: Vipps: #557320

**څنګه کولی شئ د دعوت مېډيا مالي مرسته وکړئ:**

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راوليږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مركز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د برياليتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

عنوان يې عجيبه راته ښکاره شو، ما يې هم په رانيولو کې سستي ونه کړه.

کتاب جالب؛ خو د کتاب په تورو شويو پاڼو کې نهايت له دردونو ډکه کيسه انتقال شوې ده. ښايي چا چې لوستلی نه وي، زما خبرې به هم يو څه له مبالغې ډکې ورته ښکاري.

دې کتاب کې د افغانستان او افغانانو عجيبه انځور نغښتی دی، له يو لوري يې ستاينه شوې؛ خو بل اړخ ته يې د جهل په تيارو ککړ اړخ هم روښانه کړی دی. په دې ډېر خپه شوم، چې ولې زموږ بخت داسې کوږ دی، چې هر لور کې بايد وځورېږو؟ ولې بايد په ځمکه ارام نه يو؟ آيا تر نورو انسانانو کمی لرو؟ ايا انسانان نه يو؟ هک پک شوم.

جنګ، بې وطنی، مهاجرت او ګڼو نورو مجبوريتونو مو لمن کټ مټ د يوه قرضدار په څېر کلکه نيولې، دې ته مو نه پرېږدي چې حد اقل د يو ريښتيني ژوند لږ مزه وڅکو.

په کيف کې افغانه ښاپېرۍ مو له هېواده بهر د معصومو هېوادوالو زجر او زحمت را په ګوته کوي. دا راښيي چې ولې او څنګه يو څوک د مور په شان خوږ وطن پرېږدي او بيا له کومو ستونزو سره خپلې پنجې نرموي.

خدای دې دا توفيق ټولو هېوادوالو ته ورکړي چې نور د پردیو جګړې خپل ټاټوبي ته رانوړي، وطن په ابادولو کې يو بل سره ضد وکړي او هېواد له نورو دې ته ورته ناخوالو څخه وژغوري.

وطن خوږ دی، ابادلو ته يې بايد سالم تدبير موجود وي.

د دې کتاب لوستل اړين دي، بايد ولوستل شي او پوره زده کړه ترې وشي.

د ودان او سوکاله افغانستان په هيله...!

**کتاب د لاندې ادرس څخه تر لاسه کولی شئ:**

*سروش کتابپلورنځی، مینه يار مارکېټ، د دربیمې ناحيې کوڅې ته نږدې،*
*میرویس میدان (کوټه سنګي)، کابل-افغانستان.*

*0785200212*



# د کیيف افغانه ښاپېرۍ

**هیله تبسم**

د تاریخ په اوږدو کې که وکتل شي؛ جنګونه تل نرانو راوړي دي او بیه یې ښځه پرې کوي، چې یوه بېلګه یې شیباني دی، چې د خپل ځان د خلاصون لپاره یې مقابل لوري ته خپله خور ورکړه او دی وتښتېده.

انسان چې کله په ارام چاپېریال کې ژوند کوي، ذهن یې تخلیقي ماجراوې زېږوي، خو که چېرې چاپیرال نارام وي؛ طبعاً انسان له پرمختګ او هر څه وروسته پاتې کېږي.

جګړه هغه بدبختي ده چې تل د ګوندونو او ډلو رهبرانو د خپلو شخصي ګټو لپاره منځته راوړې ده او غمیزه دا ده چې د همدې جګړې بیه وروسته بیا ملتونو پرې کړې ده. په همدې عرصه کې تر ټولو زیات د ټولنې ښځینه طبقه ډېره زیانمنه شوې ده. په تېرو زمانو کې به چې کله ښځه په جګړو کې ونیول شوه، نو دوی ته به د وینځې خطاب کېده او د غنیمت (مال/څیز) په سترګه به ورته کېدل.

زموږ په هېواد کې ښځینه طبقه تر ټولو زیاته ځپل شوې ده، او ثبوت یې له دې په ډاګه کېدای شي، کله چې د افغانستان کورنۍ جګړې پیل شوې او د قدرت او واک ترږو په خپلو منځونو کې لکه د ګور چنجي سره لګیا شول، نو د افغانستان بلخصوص د کابل ولس درونډ زیان ولید. په هغه وخت کې به د انسانانو په جامه کې ځینو وحشیانو له ښځینه طبقې سینې/تیان پرې کول او مقابل لوري ته به یې خپل نرتوب او زور د ښځې په ځپلو سره په اثبات رساوه.
د اکثر نرانو دا خصلت دی چې خپل نرتوب تل پر ښځه ثابتوي، هغه داسې چې کله یو نارینه له بل سره جنګ وکړي، نو د یو بل مېرمني ښکنځي او په دې سره خپل نرتوب ثابتوي.

جګړو په ټوله کې ملتونو ته بدبختي راوړې ده او د همدې بدبختي تاوان بېرته همدې ملتونو پرې کړی دی.

په جګړو کې تر ټولو زیانمن قشر ښځینه طبقه ده، ځکه که چېرې یې په جګړه کې مېړه مړ شي، نو ښځه په کونډه یادېږي، که چېرې یې زوی مړ شي، په بوره یادېږي. په پخواني هند کې یو بد دود د (ستي) په نامه وو. دا دود داسې و چې کله به د یوې ښځې مېړه شو، نو ښځه به یې په اور ژوندۍ سېځله! دا د انساني تاریخ په اوږدو کې هغه زړه برېښوونکې او بې رحمه ماجرا ده چې قرباني یې ښځه وه.

(یوه افغانه ښاپېرۍ په کیيف کې) د یوې مظلومې افغانې ښځې د ژوند کیسه چې جګړو، ناوړه رواجونو، تاوتریخوالي او نورو ناوړه مواردو د خپل هېواد پرېښودو ته اړ ایستله او دې ته یې مجبوره کړه چې په پردي هېواد کې ځان پلورنه وکړي.

دا کیسه د اوکراین له پلازمېنې کیيف پیلېږي او جرړې یې تر کابل، پروان او نورو ځایونو رسېږي. په دې کیسه کې د افغانانو خپل منځي جګړې، ناوړه رواجونه، تاوتریخوالی،د یوې ټولنې جنسي فقر او نور ورته موارد راخیستل شوي دي. د دې ترڅنګ د دې کیسې اصلي موضوع یانې یوه پېغله یا ښځه څنګه او په کوم موارد ځان پلورنې ته اړه کوي.

په پښتو ژبه کې داسې کیسې په ډېره لږه پیمانه او ندرت سره لیکل شوې دي او اکثر لیکوالان د داسې موضوعاتو بیانول ځانته یو چلنج ګڼي او هېڅ زړه نه ښه کوي چې لیکل پرې وکړي؛ مګر ښاغلي بزګر صاحب په داسې یوې مهمې موضوع لیکل کړي دي چې واقعاً د ټولنې لوستي وګړي ضرورت ورته لري.

کیسه له هر اړخه پوره په ډېر هنر لیکل شوې ده چې دا د کیسې لیکوال پوره او ډېرې تجربې ښکارندویي کوي.

په وروستیو کې بیا هم له بزګر صاحب مننه کوم چې داسې موضوع یې د خپل تخلیقي ذهن او ګوتو په مرسته موږ لوستونکو ته راورسوله، کور یې ودان او بچي یې لوی! ښه مطالعه ولرئ






## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668

Account for international payments: NO15 0530 2294 668

Vipps: #557320

www.dawatmedia24.com email: dawatmedia@gmail.com - dawatafghanmedia@gmail.com

**Dawat Media Center:**

V/ M. Tariq Bazger, Voldgata. 37A, 2000 Lillestrøm NORWAY



## A widespread, systematic attack on women and girls as policy

The Taliban's campaign of persecution targets women and girls across the entire country based on their gender, and potentially affects every single woman and girl in Afghanistan.

The restrictions meted out against women and girls in Afghanistan stem from directives, decisions and rulings adopted by the Taliban de facto authorities at the leadership level. These policies are enforced through a catalogue of oppressive acts, including enforced disappearance and the systematic use of imprisonment, torture and other ill-treatment. These acts are carried out by the Taliban using the former government's security apparatus, including structures that were dedicated to policing and public facilities such as detention centers.

The Taliban have consistently targeted women and girls who have participated in peaceful protests by arbitrarily arresting, detaining and forcibly disappearing them. While in detention women have been subjected to torture and other ill-treatment and forced to sign "confessions" or agreements in which they commit to not protesting again.

Taken together, the increasingly stifling restrictions and pattern of violent suppression of peaceful protest reflect the existence of a single organized system of oppression, consistent with the requirements under Article 7 of the Rome Statute.

Further, the use of public assets in these crimes, and the involvement of the Taliban police and security forces as well as other Taliban members, suggest that they may well have acted with knowledge of the wider context of the abuses targeting women and girls.

"Our report provides a holistic and in-depth perspective underlining the scale and seriousness of the violations by the Taliban. It calls for a drastic and urgent change in the international community's approach to the Taliban's persistent and flagrant criminal conduct preventing the women and girls in Afghanistan from exercising most of their human rights," said Santiago A. Canton.

**Our report indicates that (the Taliban's actions and policies) meets all the five criteria to qualify as a crime against humanity of gender persecution.**
**Santiago A. Canton, Secretary General, International Commission of Jurists**

**The gravity of the crime demands a far more robust international response than has been seen to date. There is only one outcome acceptable: this system of gender oppression and persecution must be dismantled.**
**Agnès Callamard**

## The way forward

Amnesty International and the International Commission of Jurists provide specific recommendations in the report regarding how the international community must help dismantle the Taliban's system of gender persecution and the impunity which sustains it.

The upcoming enhanced interactive dialogue on the situation of women and girls in Afghanistan at the 53rd session of the UN Human Rights Council is an important opportunity for states, civil society and independent experts to discuss gender persecution and other possible crimes under international law by the Taliban.

At its 54th session in October 2023, the UN Human Rights Council must renew and strengthen the mandate of the UN Special Rapporteur on the situation of human rights in Afghanistan and take urgent steps towards establishing an independent international accountability mechanism to investigate crimes under international law and other serious human rights violations, as well as to collect and preserve evidence of such violations with a view to support future accountability efforts, including prosecution in fair trials.

"Afghan women and girls are the victims of a crime against humanity of gender persecution. The gravity of the crime demands a far more robust international response than has been seen to date. There is only one outcome acceptable: this system of gender oppression and persecution must be dismantled," said Agnès Callamard.

"Holding the Taliban criminally accountable and tackling rampant impunity for the serious crimes documented in this report is a necessary step toward securing justice for survivors of their egregious practices. We simply cannot afford to fail the women and girls of Afghanistan," said Santiago A. Canton.

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you**

Canton, Secretary General of the International Commission of Jurists.

“Since their take over, the Taliban has imposed draconian restrictions on the rights of Afghanistan’s women and girls. Let there be no doubt: this is a war against women – banned from public life; prevented from accessing education; prohibited from working; barred from moving freely; imprisoned, disappeared and tortured including for speaking against these policies and resisting the repression. These are international crimes. They are organized, widespread, systematic,” said Agnès Callamard, Secretary General at Amnesty International.

The report covers the period from August 2021 to January 2023 and bases its analysis on a growing body of evidence collected by credible sources, including Amnesty International’s 2022 report **Death in Slow Motion**, civil society organizations and UN authorities. It also provides a legal assessment of why women and girls fleeing persecution in Afghanistan should be presumptively considered refugees in need of international protection. It complements the work of UN experts and women’s rights groups to lay the foundation for the robust response needed to ensure justice, accountability and reparation for the crimes against humanity of gender persecution.

## ‘Second-class citizens’

Since the Taliban’s takeover in August 2021, women have been excluded from political roles and most jobs in the public sector. Through a series of measures and announcements, women and girls have also been excluded from education beyond primary school, preventing them from continuing their studies at university and further restricting their professional opportunities.

The Taliban’s dissolution of the institutional framework of support for survivors of gender-based violence has further undermined the rights of Afghan women and girls on the basis of their gender. The 24 December 2022 and 4 April 2023 decrees purporting to ban women from working in NGOs and the UN, respectively, provide further evidence of gender discrimination. The requirement that women travel with a *mahram,* or male chaperone, for long-distance journeys, a decree stipulating that women should stay at home unless necessary, and the Taliban’s strict dress code violates women’s freedom of movement and freedom to choose what to wear in public.

The discriminatory restrictions the Taliban have imposed on women and girls violate human rights guarantees contained in numerous international treaties to which Afghanistan is a party, including the International Covenant on Civil and Political Rights, the International Covenant on Economic, Social and Cultural Rights, the Convention on the Elimination of all Forms of Discrimination against Women, and the Convention on the Rights of the Child.

Afghan women and girls have been arbitrarily arrested and detained by Taliban members for so-called “moral crimes” as a result of infringing the de facto authorities’ discriminatory *mahram* restrictions , and for their participation in peaceful demonstrations. Women who have protested against the Taliban’s abusive and restrictive policies have faced excessive force, unlawful arrests, torture and other ill treatment to ensure their compliance, leading to violations of the rights to freedom of expression, association, peaceful assembly and public participation.

“The restrictions against women and girls are clearly designed to target them specifically. They have violated their rights and excluded them from participation in society. Afghan women and girls are forced to live as second-class citizens. They are silenced and rendered invisible. The weight of evidence suggests that these measures reflect a policy of gender persecution that aims to obliterate the agency of women and girls in almost every aspect of their lives,” said Agnès Callamard.

The numerous incidents of arbitrary arrest and detention, torture and other ill-treatment inflicted against women and girls who either participated in peaceful protests or were accused of so-called “moral offences” should also be investigated as possible crimes against humanity of imprisonment, enforced disappearance and torture under Article 7 of the Rome Statute.

**These are international crimes. They are organized, widespread, systematic**.

**Agnès Callamard, Secretary General, Amnesty International**

**Our report provides a holistic and in-depth perspective underlining the scale and seriousness of the violations by the Taliban.**

**Santiago A. Canton, Secretary General at the International Commission of Jurists**

DAWAT

www.dawatmedia24.com

ISBN 978-82-691395-2-5

9 788269 139525

Vol. 249 July-Sep. 2023

DAWAT is independent publication. Established in 1988. DAWAT is not associated with any political organization. The views and ideas expressed in DAWAT are those of the writers and are not necessarily those of the editor. All letters and articles sent to the editor are welcomed but will not be returned.

Editor and Publisher: M. Tariq Bazger,
Dawat Media, V/ M. Tariq Bazger
Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm, NORWAY
Tel. +47.63844384 Mobil. +47-90856195,
dawatmedia@gmail.com

AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX
A/C for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.
Thank you

# THE TALIBAN'S WAR ON WOMEN

## The crime against humanity of gender persecution in Afghanistan

## Afghanistan: Taliban's treatment of women and girls should be investigated as the crime against humanity of gender persecution

## Afghanistan: Taliban's treatment of women and girls should be investigated as the crime against humanity of gender persecution

AMNESTY INTERNATIONAL

The Taliban's severe restrictions and unlawful crackdown on women and girls' rights should be investigated as possible crimes under international law, including the crime against humanity of gender persecution, Amnesty International and the International Commission of Jurists said today in a new joint report.

The report, '**The Taliban's war on women: The crime against humanity of gender persecution in Afghanistan**', presents a detailed legal analysis of how the Taliban's draconian restrictions on the rights of Afghanistan's women and girls, together with the use of imprisonment, enforced disappearance, torture and other ill-treatment, could amount to the crime against humanity of gender persecution under Article 7(1)(h) of the Rome Statute of the International Criminal Court (ICC). Amnesty International and the International Commission of Jurists consider that the prosecutors of the International Criminal Court should include the crime against humanity of gender persecution in their ongoing investigation into the situation in Afghanistan. The organizations are also calling on other states to exercise universal jurisdiction or other lawful means to bring to justice Taliban members suspected of responsibility for crimes under international law.

"The Taliban's campaign of gender persecution is of such magnitude, gravity and systematic nature, that cumulatively the acts and policies form a system of repression which aims to subjugate and marginalize women and girls across the country. Our report indicates that this meets all the five criteria to qualify as a crime against humanity of gender persecution," said Santiago A.